PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـــرآة الجـــهـــاد

لومړي کال ، ٤٩ گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال داسد ۳۰مه

هشدار رژیم کابل به مردم ولسوالی خوگیانی

پشاور ، میدیا :
عده از خانواده های تازه رسیده ازمنطقه غله ولسوالی خوگیانی ولایت ننگر هار به پشاور اطلاع داده اند که رژیم کابل از طریق هوا باپخش اطلاعیه های باشندگان انجار را هشدار داده است تاهرچه زودتر محل را تخلیه نمایند درغیر ان راکت سکد برانها فیر خواهد شد .
این خانواده های می افزاید: اخیرا بسیاری ازخانواده هابخاطر کشت وزراعت فصل سرماهی به خانه های شان برکشته بودند ولی هفته کذشته ازطریق این اطلاعیه ها تهدید شده اند تا زود تر ازان جا خارج گردند ، درغیران خود مسوول مرگ شان خواهند بود .

* په خورد کابل کي درژیم (۱۵) پوستي فتحه شوي

۷ مخ کي

* مذاکرات مستقیم بین مقامات سرحدي روسیه وهیأت شوراي نظار جمعیت اسلامي

درصفحه۷

دسلمان فارسي (رض) دغنډ رئیس ارکان ډاکټر نصرت الله دجهاد هنداري له خبريال سره په مرکه کي :

پرگردیز دعمومي عملیاتو مقدماتي کاروَنه پای ته رسیدلي اودهر ارخیزې حملې وخت رانږدې دی

په (۳) مخ کي

۱۲ پوسته امنیتی گارنیزیون « شراب بیگ » فتح گردید

فاریاب ، ٢٤ اسد :
مجاهدین طی عملیات های جداگانه درولسوالی شرین تگاب ولایت فاریاب ۱۲ پوسته ویك قرارگاه نظامی رژیم کابل را فتح ومقادیر زیاد سلاح ومهمات رابه غنیمت گرفته اند .
به اساس گزارش دفتر مطبوعاتی ریاست سیاسی شورای قوماندانان مجاهدین بتاریخ های ۲۱– ٢٤ اسد یك گارنیزیون نظامی رژیم کابل واقع درولسوالی شرین تگاب رابا سلاح ثقیل مورد حمله قرار داده درنتیجه دوازده پوسته نظامی غند شراب بیك واقع درجمعه بازار شهر شرین تگاب راتصرف و ٥٠ تن از افراد نظامی غند مذکور را اسیر نمودند .
درجریان این عملیات ۳۰ تن ازنظامیان رژیم هلاك وتعداد زیاد شان زخمی گردیده خسارات هنگفت برتاسیسات نظامی قرارگاه مذکور وارد امده است .
همچنان مجاهدین مقادیر زیاد لوازم ومهمات نظامی از جمله یك میل هاوان ، دوپایه مخابره ، ۷۰ میل کلاشینکوف رابه غنیمت گرفته اند .
راپور می افزاید که عملیات جهادی بخاطر تصرف کامل گارنیزیون شراب بیگ ادامه دارد .

۳ پوسته رژیم در تنگی واغجان به اتش کشیده شد

لوگر ، ۲۰ اسد :
خبر نگار جهاد هنداره ازقول منبع مسول دفتر مطبوعاتی ریاست سیاسی شورای قوماندانان خبر می دهد که مجاهد ین ولایت لوگر باوجود بمباردمان شدید رژیم توسط فیر اسلحه ثقیله خویش ۳ پوسته نظامی رژیم در منطقه تنگی واغجان رابه اتش کشیدند .
گزارش می افزاید طیارات جیت رژیم بتاریخ های ۱۹ و ۲۰ اسد سنگرهای مجاهدین ومنازل مسکونی رادر منطقه مذکور بمباردنموده که باعث تخریب یکعده منازل مسکونی وشهادت یکتن مجاهد گردید .

دیوی سپینی کودتا په واسطه گورباچوف له قدرت څخه گوښه کړای شو

مسکو ، داسد ۲۸ مه :
نړیوال خبری اژانسونه دمسکو څخه رپوټ ورکوی چی دروسیی جمهور رئیس اوددی هیواد دکمونست گوند مشر «میخایل گرباچوف »نن ورځ دیوی سپینی کودتا په وسیله له اقتدار څخه گوښه کړای شو.
په خبرونو کی ویل شوی چی دگورباچوف پخوانی مرستیال «گینادی یونایوف »دده پرځای دهیواد دجمهور رئیس په توگه تاکل شوی دی .
په یوه دولتی اعلامیه کی چی درادیو اوتلویزیون له لاری خپره شوی په ټوله روسیه کی دشپږو میاشتو لپاره اضطراری حالت اعلان شوی ، په اعتصابونو اومظاهرو باندی بندیز لگول شوی اوویل شوی چی دکورنیو چارو وزارت ، کی ، جی ، بی او دفاع دوزارت دلوړ رتبه غړیو څخه تشکیل شوی یوه شورا ددولت دچارو په سمبالښت کی همکاری کوی .
رپوټونه زیاتوی دمسکو په ښار کی دټانکونو اوپوځی کاډیو تگ راتگ پیل شوی او گورباچوف ترتوقیف لاندی دی .
بل لوری ته دروسیی رسمی خبری اژانس تاس په خپل خپاره کړای شوی رپوټ کی ویلی چی دگورباچوف صحی وضعه خرابه ده ځکه یی دهیواد دجمهوری ریاست څخه خپله استعفی وراندی کړی خوداندی ویل شوی چی دکمونست گوند له مشری څخه یی هم استعفا کړی اوکه نه ؛

مجاهدین ولایت کابل مواضع رژیم رادرهم کوبیدند

کابل ، ۱۲ اسد :
قرار راپور دفتر مطبوعاتی شورای قوماندانان مجاهدین منطقه چکری در ۱۷ کیلومتری شهر کابل بروز ۲۰ اسد بر قرارگاه های نظامی رژیم کابل در منطقه مذکور حملات سلاح ثقیل را اجرا نمودند که در نتیجه دو لاری نظامی تخریب وده نفر ازملیشه ها ونظامیان رژیم به هلاکت رسیده است .
همچنان مجاهدین ولسوالی پغمان گزارش داده اند که حمله تهاجمی یك غند مجهز قوای رژیم کابل را درناحیه چهل تن ولسوالی پغمان درهم شکستند وطی این عملیات سه نفر از عساکر رژیم هلاك دونفر اسیر و ۲۵تن دیگر زخمی شده اند مجاهدین درجریان عملیات شان دودستگاه راکت انداز و ۲۵ میل کلاشینکوف رابه غنیمت گرفته اند

یك طیاره دشمن دربدخشان سقوط داده شد

بدخشان ، میدیا :
طبق گزارش رسیده از منابع مجاهدین مستقر درولایت بدخشان ، طیارات جیت رژیم به روز ٢٤ اسد ولسوالی ازاد شده جرم بدخشان راهدف بمباران وحشیانه قرار داده که درجریان این بمباران یك طیاره جیت درنتیجه دفاع هوایی مجاهدین مورد اصابت قرار گرفته ساقط گردید وپیلوت طیاره به اسارت مجاهدین درامده است .
درخبر علاوه شده که بمباران طیارات رژیم بالای مناطق ازاد شده ومردم بی دفاع بدخشان به شدت جریان دارد .

یك صد تن ازملیشه های رژیم در میدان شهر به هلاکت رسیدند

میدان شهر ، میدیا :
یك منبع جهادی به میدیا گزارش داد مجاهدین به روز ۱۸ اسد با انجام عملیات بالای پوسته های امنیتی رژیم کابل درمربوطات میدان شهر مرکز ولایت وردگ ومیدان شش پوسته دشمن را فتح وصد تن از ملیشه های رژیم را هلاك ، مقدار زیاد مهمات ، مواد خوراکی با تعداد سلاح های سبك وسنگین را غنیمت گرفته اند .
خبر می افزاید که درجریان این عملیات شش تن مجاهد شهید و ۱۲ تن دیگر مجروح گردیده اند .
طیارات جیت رژیم جهت انتقام کیری این عملیات مناطق ازاد شده ولسوالی چك وردگ راهدف بمباران قرار دادند که از تلفات وخسارات اطلاع دردست نیست .
همچنان طبق یك خبر دیگر مجاهدین طی حمله دیگری بر پوسته های رژیم دراطراف میدان شهر دوپوسته رژیم را منهدم ، یك عراده ټانك راحریق و۲۳ تن از افراد رژیم را به هلاکت رسانیده اند.

چي ومي لیدل نوومي لیکل

له جهادي سنگرڅخه رالیږل شوي راپورتاژ

په (٥) مخ

دشهید ضیاالحق دریمه کلیزه په ډیر عقیدت اواحترام ونمانځلی شوه

اسلام اباد ، داسد ٢٦ مه :
دپاکستان دپخوانی جمهور رئیس جنرال محمد ضیا الحق دشهادت دریمه کلیزه داگست په ۱۷مه نیټه په ټول پاکستان ازاد کشمیر اوحتی نیول شوی کشمیر کی هم ونمانځل شوه .
په دغه لړ کی ترټولو ستره غونډه داسلام اباد په شافیصل جومات کی وشوه چی دنوموړی شهید مزار هم پدغه ځای کی دی پدی لویه غونډه کی دپاکستان دلوړو مقاماتو څخه پرته افغانی مهاجرینو هم گډون درلود .
غونډی ته دپاکستان صدر اعظم میاه نواز شریف اودشهید جمهور رئیس مشر زوی ښاغلی اعجاز الحق وارپه‌وار ویناوی وکړی دمرحوم په ژوند او کارنامو یی رڼا واچوله دعقیدت پیرزوینی یی ورته وړاندی کړی اوهمدارنگه یی دخپلو خبرو په ترڅ کی دنوموړی شهید دقاتلانودنیونی غوښتنه هم وکړه دپاکستان صدراعظم نواز شریف دخپلو خبرو په ترڅ دافغانستان اوکشمیر دمسلو په باب دنوموړی دکامیابی پالیسی یادونه وکړه اوخلکو ته یی وعده ورکړه چی ډیر زر به دخدای پاك په فضل دشهید قاتلان ونیول شی. جنرال محمد ضیاالحق ورم کال په ۸۸/۸/۱۷ نیټه په یوه هوایی حادثه کی د۳۰ تنو نورو ملگرو سره یو ځای په شهادت ورسیدل .

په اسرائیلی زندانونوکی په عربی بندیانو له وحشته ډك ظلمونه کیږی

لندن ، داسد ٢٦ مه :
دخپرو شویوخبرونوله مخی اسرائیلی وحشیان پخپلو بندیخانو کی پر بی گناه عربی مسلمانانو له وحشت اوبربریت څخه ډك ظلمونه کوی دغه منابع لیکی : شپږ کاله وړاندی دحزب الله دگوند مجاهدینو دجنوبی لبنان څخه دوه اسرائیلی پوځیان یرغمال کړل په همدی ورځ اسرائیلی پوځیانو دخپلو ملگرو په بدل کی دجنوبی لبنان د(شکر) نومی کلی څخه یوه مسلمانه مبارزه ښځه او دوه تنه نور مسلمانان دخیام بندیخانی ته واچول پدغه بندیخانه کی نور په سلگونو مسلمانان بندیان هم پراته دی چی دردونو اوکړاونو ډك ژوند تیروی .
یو راخلاص شوی بندی چی شپږ کاله یی په دغو بندیخانو کی تیر کړی وایی : اسرائیل اوس هم هڅه کوی اوپدی لټه کی دی چی خپل ورك شوی پوځیان پیداکړی په موږ باندی داسی ظلمونه تیر شوی چی دویلو نه دی دغلته له موږ ټولو څخه به دایوه پوښتنه کیده چی ستاسی دوسلو گودامونه چیری دی داخبره دیادولو وړده چی تراوسه پوری اسرائیلی واکمنو دخیام زندان ته دیوی نړیوالی اداری دورتگ اجازه هم نه ده ورکړی .

سرمقاله

له روسانوسره دمجاهدینو دهیئت خبری اتری په کومو شرایطو گټوری بللای شو؟

دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په نوم په دی وروستیو وختوکی یو لړ داسی هلی ځلی پیل شوی چی دهغوی پراصلی ماهیتونو اوبیلابیلو انگیزو پوهیدنه ترډیره حده ستونزوره خبره ده ځکه چی که داخبری ظاهرادافغانستان دقضیی دسیاسی اوسوله ایزو حل په عنوانولو په یوه اویله بڼه سرته رسیږی ، خوترشایی هرڅوك خپل لری اونړدی سیاسی اهداف اواغراض لری که دملگرو ملتونو داداری له خوا دهغی دسرمنشی په خوله دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په منظور پنځه نقریزه طرحه وړاندی کیږی اوکه دملگرو ملتونو دسرمنشی ځانگړی استاځی بنیأن سیوان دکابل ، اسلام اباد اوتهران ترمنځ سرگردانه گرځی اوپا که ظاهرا دځینو جهادی تنظیمونو په شمول دایران اوپاکستان ترمنځ په اسلام اباد کی په لوړه سطحه ددری اړخیزه خبرو اترو په عنوانولو کنفرانسونه جوړیږی اوددغو خبرواتروداو مذاکراتو دېشپړتیا نهایی فیصلو ته رسیدو په نامه داگست په ۲۷ مه نیټه دایران داسلامی جمهوریت په مرکز تهران کی دایران پاکستان له خوا دمجاهدینو داستازیو په شمول دیو بل کنفرانس دجوړیدو ژمنی خبری کیږی اوکه په نړیواله سطحه دافغانستان دقضیی دسوله ایز حل په نامه دیو داسی کنفرانس دجوړیدو او رابللو غوښتنه کیږی چی پکی په جگړه کی

په ۸ مخ

ترهغه چي په کابل کي دروسانو مزدور رژیم موجود وي دافغانستان دقضیي هیڅ ډول سیاسي حل امکان نلري

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ١٣٦٩ هـ ش

پرګرديز دعمومي عملياتو مقدماتي کارونه پاي ته رسيدلي اودهر اړخيزې حملې وخت رانژدې دی

ډاکتر صاحب نصرت الله خان چی فعلاً دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی دحضرت سلمان(رض) دغنډ درئیس ارکان په توګه په جهادي فعالیتونو بوخت دی.
سره له دی چی ته یی چیرته پوځی ښوونځی لوستی،نه یی حربی پوهنتون اونه یی په کومه نظامی اکاډمی کی زده کړه کړی وه،دطب دپوهنځی ددریم ټولګی محصل و چی په افغانستان کی دثور دخونړی کودتا په نتیجه کی ملحدین قدرت ته ورسیدل ، دخپل دینی احساس او ایمانی جذبی له امله یی زده کړی نیمګړی پریښودی اودوسله وال جهاد سنګرته یی ورودانګل ، دجهاد په مدرسه کی وروزل شو، اواوس ورڅخه په جنګی تاکتیکونو،فنونو ، پلانونو اوطرحو او نقشو جوړولو اوپه عمل کی دهغی پلی کولو کی ماهر جوړشوی چی دنړی په عصری پوځی اکاډمیو اوپوهنتونو کی روزل شوی جنرالان ورته دتسلیمی سرټیتوی او هرڅوك یی فوق العاده استعداد ته ګوته په غاښ دی.
نوموړی څو ورځی دمخه دخپلو چارو داجراپه باب پیښور ته راغلی ؤ ، دجهاد هنداری خبریال له وخت نه په استفادی ورسره یوه مرکه کړی چی متن یی درنو لوستونکو ته وړاندی کوو:
اداره

پوښتنه : محترم ډاکتر صاحب که دخوست دستری فتحی په عملیاتو کی دحضرت سلمان فارسی (رض) دغونډ مجاهدینو دږول په هکله معلومات راکړی ؟

ځواب : دسلمان فارسی (رض) دغونډ مجاهدینو دخوست دفتحی په عملیاتو کی په جنوبی خوست کی اغیزمن رول ترسره کړ دجنوبی خوست جبهه ددښمن په مقابل کی ترټولو لویه اودښمن یی دهروخت لپاره په ویره کی اچولی ؤ ددی جبهی داول خط دفاعی کرښی چی دسګیو څخه نیولی اودتورغر ترختیځی برخی پوری امتداد لری دسلمان فارسی (رض) دغونډ دجزوتامونو په کنترول کی دی ددی غونډ دجزوتامونواوددښمن ددفاعی کرښو ترمنځ واټن تقریباً د٥٠٠ مترو څخه نیولی تر ٤٠٠ مترو پوری ؤ څرنګه چی پر دښمن دجنوب له طرفه دوامداره حملی کیدلی نو په دی سبب دښمن ترټولو سرسخت ارګانونه چی دخاص ګارد ،ملیشو اودولتی امنیت په نوم یادیدل ، همدلته ځای پر ځای کړی وواودهمدی استقامت څخه دخطر دمخنیوی په خاطر یی اوله درجه احضارات نیولی وو دحملی په لومړنیو لسو دقیقو کی ددښمن له خوا پر مجاهدینو پنځه سکډ توغندی استعمال شول خو مجاهدینو په پوره میړانه ددښمن لومړی دفاعی خط مات اوځانونه یی دشمل خوړاوزاره هوایی ډګر ته ورسول او وروسته یی زړو هوایی ډګر چی تقریباً ٤٥ الوتکی پکی وی ، فتح کړ زموږ مجاهدینو دخوست دفتحی په ورځ دغرمی څخه دمخه دهوایی ډګر ټولی پوستی فتحه اودماسپښین په دریو بجو یی تخته بیګ په طرف چی ١٩ غونډ اودستم قرارګاوی پکی ځای په ځای وی حرکت وکړ ، دمازدیګر په پنځو بجویی دتخته بیګ اودترمیم قطعی ونیولی او د٥٠٠ تنواسیرانو په نیولو سره یی دخوست ښار جنوبی خوا په خپل کنترول کی راوستله .

پوښتنه : دخوست تر فتحه کیدو وروسته اوس ددغه ځای دامنیت مسئله څه ډول ده ، دسلمان فارسی (رض) غونډ په دغه لړ کې څه وظایف ، مکلیفیتونه اومسوولیتونه لری ؟

ځواب : دخوست دفتحی وروسته دخوست ټولو شوراګانو یوه غونډه وکړه اود امنیت شوراته یی چی دخوست دفتحی څخه دمخه جوړه شوی وه ، وظیفه ورکړه چی دخوست دامنیت دپاره دی ژر تر ژره اقدام وکړی ، چی په نتیجه کی دغه امنیتی شورا په خوست کی پوره امنیت راوست .
همدا راز دحقانی صاحب په هدایت دسلمان فارسی (رض) غونډ یوټولی دنورو تنظیمونو مجاهدینو په شمول دخوست دجنوبی برخی دامنیت دپاره موظف شوی چی ددغی سیمی سوق اواداره دهمدغه ټولی دقوماندان له خوا کیږی دسلمان فارسی غونډ یو ټولی په زړو هوایی ډګر اویو بل ټولی په تخته بیګ کی ځای پر ځای شوی دی ، ترڅو ددښمن داحتمالی حملو مقابله اودفاع وکړی .

پوښتنه : دخوست دفتحه کیدو وروسته داسی څرګندونی کیدی چی مجاهدین به ډیر ژر په ګردیز باندی هراړخیزه حمله پیل کړی خو تراوسه داکار نه دی شوی ، علت یی څه دی ؟

ځواب : پر ګردیز دحملی دځنډیدو علتونه یو دمهماتو کموالی اوبل داراضی نابرابروالی ؤ ځکه مجاهدین باید دځانونو دپاره ګاری ، ځاری اوپخی موضعګانی جوړی کړی ترڅو ددښمن دهوایی ، توپچی سکډ اواوراګان توغندیو څخه ځانونه وساتی ، همدا راز یی باید خپلو سنګرونو ته سرکونه ایستلی وی ترڅو خپل اکمالات وکړی اوهم داکمالاتو دپاره وسایل په کار وو دغنمیت ویش موضوع هم دپاملرنی وړوه چی دی ټولوکارونو خامخا څه وخت ته ضرورت درلود ، خو اوس انشاالله داټول کارونه په ښه ډول سرته رسیدلی دی اومجاهدین به په راتلونکو څو ورځو کی دخدای (ج) په مرسته دخپل پلان مطابق پرګردیز حمله پیل کړی .

پوښتنه : دخوست دستری فتحی په عملیاتو کی دحضرت سلمان فارسی (رض) غنډ مجاهدینو کوم کوم ځایونه فتحه کړی اوستاسی داټکل له مخی به یی څومره سپکه او درنه وسله په غنمیت نیولی وی ؟

ځواب : دخوست دستری فتحی په وخت کی مجاهدینو ددرملکی په استقامت دخاص ګارد جزوتامونه ، دوزیانو اوسکی په استقامت دګلم جم پوستی ، دزرجان ، نورالله خان ، چنار پوسته ځدرانو پوسته ، دشیخ میر علاقه داری ، دخوست زړو هوایی ډګر ، دمصلی پوسته د١٩ غونډ قرارګاه ، ددستم قرارګاه اود٢٥ فرقی وسله تون چی په تخته بیګ کی یی موقعیت درلود دسلمان فارسی (رض) غونډ له خوا فتحه شول .اوپه لاندی ډول سپکی ، درنی وسلی او مهمات یی په غنمیت نیولی

١- کلاشینکوف ١٠٢٧ میله
٢- کره بین ٢٨٥ میله
٣- پیشه ٣٣٠ میله
٤- تی تی تفنګچه ٣٠ میله
٥- دهشکه ١٠ میله
٦- لوی او واړه ګاډی ٥٠ عرادی
٧-زرهپوشونه ٥ عرادی
٨- ٧٦صحراتوپونه ١٠ میله
٩- ١٢٠ ملی متری هاوان ٤ میله
١٠- ٨٢ ملی متری هاوان ١٥ میله
١١- ماشیندار ثقیل ١٠ میله
١٢- اس ، پی ، جی ، ٩ ٥٠ میله
١٣- مختلف النوع دوربینونه
١٤- دترمیم سیار ورکشاپونه ١٠ عرادی
١٥- ترانسپورتی ٣٢ ال ساخت روسی طیاری ٤٠ فروند
١٦- ترانسپورتی ٢٦ ام ساخت روسی طیاری ٥ فروند
١٧- ٣٤ تی ټانك ١ عراده
١٨- دسپکو اوثقیل سلاح ګانو مهمات ١٠٠ موټرونه
١٩ -زیکویك ٥ میله
٢٠- راکټ وسط ار پی ، جی ٢٠ میله
٢١- راکټ ار ، پی ، جی ٢ ، ٢٠ میله
٢٢- مواداتِ ضد ټانك لانچر ٢٠ لانچر
اونور مختلف النوع حربی سامان

دالله (ج) په فضل سره مجاهدينو وکولي شو چي په ډير کم وخت کي دخوست ښار فتحه کړي همداسي به په ډيره اساني اوکموتلفاتو سره دافغانستان هغه سيمي چي دکمونستانو ترتسلط لاندي دي ازادي کړي

په اووم مخ

په روس کې دګلاسنوست اوپرسترویکا سیاست ته خاتمه ورکړل شوه

عبدالوکیل

په هغو وروسته پاتې ساتل شویو هیوادونو کې چې سیاسي خپلواکی یې ترلاسه کړی دي رئیس جمهور ان اویا پادشاهان دخپلو هیوادونو په سیاسي ، اقتصادي ، ایدیالوژیکي اوټولنیزو بدلونونو کې بنسټیز مثبت اویامنفي رول لوبوي خوهغه هیوادونه چې اقتصادي ، سیاسي ، ایدیالوژیکي اوټولنیزپوخوالی ته رسیدلي دي قوي اوپرمخ تللي دولتي دستګاوې یې جوړې کړې په نومړو اړخونو کې دمثبت اویا منفي تغیراتو په منځ ته راوړلو کې داشخاصو رول خورا ټیټ شویدی تردې چې دکورنیو اوبهرنیو سیاسي اواقتصادي تګ لارو اساسي لوری دیټو سازمانونو (استخباراتی دستګاؤ) په واسطه تعین کیږي اما دروسي استخباراتي دستګاه «کی ، جی ، بی »دنړۍ دټولو هیوادونو په نسبت دروسي کمونستي امپراطورۍ دکورني اوبهرني سیاست په تعین کې زیات اختیارات ترلاسه اودکمونست ګوند اودولت ټول واك یې پخپل لاس کې متمرکز کړی دی .
په روس کې د١٩١٧ م کال داکتوبر کمونستي فاجعې څخه راوروسته بیاد ستالین دله منځه تلو پورې دروس استخباراتي دستګاه (اوسنی کی ، جی ، بی) کامل اختیارات نه ؤ ترلاسه کړي داسې ویل کیږي چې ستالین کی ، جی ، بی دزهرو په واسطه له منځه یو وړ اوپرځای یې خرشچوف وټاکه خرشچوف دخپل قدرت په وخت کې په شخصي ډول سره د (کی ، جی ، بی له مشاورې پرته) یوشمیر کارونه سرته ورسول نوځکه کی ، جی ، بی هغه له خپلی وظیفې څخه وشاړه اوپرځای یې بریژنیف مقرر کړ .
دبریژنیف په وروستیو کې دیوې خوا روسان داقتصادي پرابلمونو سره لاس په ګریوان شول اودبلې خوا په افغانستان کې دهغوی نظامي مداخلې په ټوله نړۍ کې ترپخوا لازیات رسوا اومنفور کړل همدارنګه په عمومي ډول سره دروسي کمونستي امپراطورۍ اوسیدونکو روحیاتو سرمایه داري سیستم ته له پخوا زیات تمایل پیداکړ اودغرب څخه داقتصادي اوتخنیکي مرستو حاصلولو لارې پرې وتړل شوې نوددغو اودې ته ورته نیمګړتیاودله منځه وړلو پخاطر یې نوی سیاسي اواقتصادي تګ لارې (ګلاسنوست اوپرسترویکا) ته د «ګورباچوف » په وجود کې لاس واچاوه «کی ، جی ، بی» په تیرو پنځو کلونو کې دیوه طرفه نوي تجربه حاصله کړه اوکه چیرې دګلاسنوست اوپرسترویکا سیاستونه دپلان سره سم بریالي شوي وای نوروسي کمونستي امپراطوري به یې لانوره هم ټینګه کړې وای اودبله طرفه دروسي امپراطورۍ تر ستم اوتسلط لاندې ولسو نه یې په دې موده کې دسختو اقتصادي اوسیاسي ستونځو سره مخامخ کړل اوداسې یې ورته ښودله چې په غرب کې هم مفتې پخې اوتیارې ډوډۍ نشته چې په نتیجه کې یې خپلې دیکتاتورۍ چلولو ته نسبتاً ښه شرایط برابر کړل پردی برسیره روسانو په بین المللي مسایلو کې دعقب نشینی په وجه دنړیوالو افکار، دامریکاد متحده ایالاتو کړو وړو ته متوجه کړل اوداسې یې څرګندوله چې ګنې نور نو په نړۍ کې روسي اوکمونستي خطر له منځه تللی دی خودغه سیاست هم لکه څنګه چې پلان شوی ؤ اوکی ، جی ، بی ورته هیله منه وه مثبته نتیجه ورنکړه ځکه چې ددغه سیاست د په کاروړلو په نتیجه کې سیاسي اواقتصادي انارشي مخ په زیاتیدو شوه ، دخپلواکی دمصنوعي ناروسورو ترشا رښتیني ملي اوازادي بښونکي جنبشونه راپورته شول ، انفلاسیون صعودی حالت اختیار کړ، دروسی کمونستي امپراطورۍ اوسیدونکو دژوند سطحه دیوی ورځې څخه بلې ته مخ په خرابیدو شوه ، دروسانو پرابر ځواك باندې دنړۍ اودروسي کمونستي امپراطورۍ ترتسلط لاندې ولسونو اوملتونو باور مخ په ورکیدو شواوروسي دولت یې دکچکول پرغاړه خیرټولوونکي سره مشابه کاوه اویاالاخره داسې څرګندیده چې دنسبتاً کم وخت په تیریدو سره به دغه خونړۍ امپراطورۍ ټوټې ټوټې شي.
نوځکه په دې اخیرو کې کی ، جی ، بی داسی احساس کړه چی نور نو دنوموړی سیاست تعقیب دوی په ګټه ندی اوباید پخوانی سیاست ته ورته سیاست چې د «بریژنیف » په سیاسی تګ لاره یی هم شهرت پیداکړی راوګرځي همداوجه وه چې د١٣٧٠ هـ ش کال داسد په ٢٨ دکودتا له لارې سیاسی قدرت دکی ، جی ، بی په واسطه سره جوړې شوی کمیټې ته نقل اودغی کمیټې په راس کې یې «ګینادی یونایف » چې دګرباچوف معاون ؤ وټاکه اودګلاسنوست اوپرسترویکا سیاست دعملی کولو څخه یې ډډه وکړه .

په اتم مخ

۲۰مه برخه

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا ، کام ، خاد ، واد - تشکیلات ، فعالیتونه او جنایات

دواد دکار طریقه :
واد(پخوانی خاد) په کم وخت کې دکابل رژیم ترتسلط لاندې سارګوتو کې دوحشت اوویرې تورې وریځې لانورې هم تیارې کړلې اودسرحدي پولې څخه بهرېې ترور ، تخریب اونورو ورانوونکو کړو وړو ته شدت ورکړ ، په دې وخت کې دسیاسي متهمینو روحي او جسمي شکنجو نوی ډولونه په کار واچول شول اوکله چې کوم مجاهد او مسلمان په لاس ورشی دهغه داقرار لپاره دسختو اودردوونکو جسمي او روحي شکنجو څخه کار اخلی ددغو شکنجو ډولونه له شمیره وتلي دي خو دهغوی یوې برخې ته اشاره به زموږ سره دروسانو او دهغوی کمونستي وحشتونو په پیژندګلوی کې څه ناڅه مرسته وکړي .
خاد (اوسنی واد) دجسمي او روحي شکنجو لپاره مخصوص وسایل او

کارکوونکي لري دغه دشلم قرن نوي تیپ جلادان دسرڅخه نیولې بیا تر پښو پورې داسي تورې مخصوصي دریشی اغوندي چې یوازې سترګې یې پکې ځرګندیږي بیانو سیاسي متهمین په داسي حال کې چې روسي مشاورین (چې اصلاً ددوی لپاره دفوق العاده قوماندانانو حیثیت لري) یې ترڅنګه پر چوکیو ناست وي دلښتو په واسطه سره دمتهم په وهلو پیل کوي دغه متهمین ترهغو پورې وهي چې یاخو په رښتیا اویا دوهلو څخه دنجات پخاطر یې په درواغو اقرار نه وي کړی اویا دوهلو لاندې شهید شوی نه وي ، که چیرې دکوما حالت اختیار وي اوبې هوشه کیږي نو یې په اوبو کې اچوي اوکله چې دکوما له حالتڅخه راوګرځي بیا همغه وهل پیل کیږي ترڅوچې نوموړی حالات

[redacted]

(اقرار یا شهید کیدل) اختیار کړي کله چې دغه متهمین شهیدان شي بیا یې نو خپلو کورنیو اوخپلوانو ته نه سپاري بلکې دوسیو ته یې روسان اور وراچوي اوپه شهیدانو باندې دشپې له خوا په داسې ځای کې خاورې انباروي چې بې له روسانو اودروسانو له مخصوصو پرچمي او خلقي مزدورانو څخه بل څوك پرې خبر نه شي بې خوبه کول ، یخوابو کې درول ، په لغتو اوسوکانو هل ، دویښتانو کښل ، معذرت ته نه پریښودل ، برقی جټکې (الکتریکی شوك) ورکول ، دنوکانو کښل تناسلي الاتو ته برق ورکول ، په تیارو تمجنو اوتنګو کوټو کې اچول ... خودوی عادي او ورځني کارونه دي چې پر متهمینو باندې یې تطبیق کوي اما

دهغوی روحي شکنجو بیان دکومو څخه چې روسان اودوی لاسپوڅی رژیم کار اخلي ، دهرانسان له وسه پوره نه دي روسان او مزدوران یې دلزوم په صورت کې متهمینو او دمتهمینو اقاربو ته دهیڅ ډول بې حرمتی څخه ډډه نه کوي اودانسانیت اوانسانی شرافت څخه لیرې ټولو لارو چارو څخه کاراخلي.ددغو روسانو اودهغوی پرچمي اوخلقي مزدورانو خصلتونه څه چې څیرې یې بدلې او وحشي شوي دي او دغو دشلم قرن انسان نما ځناورو په دي ترتیب سره دکمونستي استبداد په پیاده کولو زور واچاوه .
کله چې په ۱۳٦٥ هـ ش کال کی دخاد رئیس نجیب دکارمل پر ځای مقرر شو دخاد نوم یې په واد (وزارت

امنیت دولتي) واړاوه اوهمدا غیر اسلامي او غیر انساني اودهومانیزم ضد کړه وړه یې لانور هم ګرندي اوپراخ کړل .
دکی ، جی ، بی دغه څانګه (واد) په عمومی ډول سره ددریو لارو،انګیزو اوعواملو په اړوند داجنټانو اوریزدینټانو سره اړیکي ټینګوي .
۱- عقیدوي ۲ مادي (دپیسو په اړوند) ۳- مجبوریت
۱- عقیدوي : په دې ډله کې هغه اجنټان او ریزد ینټان شامل دي چې یاخو نظر په مختلفو عواملوسره یې کمونستي نظریات منلي او منل یا عملي کول یې په خپله ګټه بولي یاداچې دهغو عقدو په واسطه چې دژوند په جریان کې یې دکمونستانو ضد ځواکونو په مقابل کې پیداکړي وي کی ، جی ، بی دغه ډله اجنټان او ریزد ینټان ترټولو مطیمن او عالي

بولي .
۲- مادي : دغه دله یا میاشتنی معینه تنخواه لري اویا داچې دهغه خبر اویاعمل داجراکولو په مقابل کې چې راوړي یې اویا ورته سپارل کیږي اواجرا کوي یې، په معلومه اندازه پیسي ورکول کیږي همدارنګه یو شمیر اجنټان داعمل دمعینو اهدافودلاس ته راوړلو په خاطر سرته رسوي لکه دمقامونو لاس ته راوړل اویا ساتل اوپه ژوند کې دنورو پرابلمونو درفع کولو په خاطر کوم چې په روسانو اودروسانو په مزدور رژیم پورې تړلي وي .
۳- مجبوریت : که چیرې کوم شخص برسیره پر هغوعواملوچې وجود لري موثریت یې زیات وي اودعقیدې اویا په مادي لحاظ د کی ، جی ، بی اویا واد سره اجنټوري کاروته نه تیاریږي نو په مختلفو شکلونو باندې یې مجبوروي

په شپږم مخ کې

په تیرپسي :

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې :

مسلم زیاره

د « یوکرا ین » د « فیرومائسلك » سیمی او سیدونکی « سکورافلو توانیدریوو دسیمیروویچ » هم دهغو روسیی پوځیانو له جملی ځنی دی چی دخوښی پرته افغانستان ته رالیږل شوی دپوځی روزنی په دوران کی هغه ته داسی فلمونه ښودل کیدل چی په هغوی کی په دروغو په افغانانو دپاکستانی او امریکایی پوځیانو دظلم صحنی ښودل کیدی ، کله چی افغانستان ته راورسید هغه ته دحالاتو پته ولګید ه او ضمیریی ویښ شو . « سکورا » دپنځم ټولګی زده کوونکی ؤ چی کورنی یی په ترافیکی پیښی کی له منځه لاړه او دی یواځی پاتی شو ، تر اتم ټولګی یی زده کړه وکړه ترهغی وروسته یی دمعدنیاتو په رشته کی زده کړوته دوام ورکړ تردی وروسته هغه ده‌فیر مانسکی » په انستیتوت کی داخل شو روزنی د خرڅ پوره کولو په خاطر به هغه ورځی دکویانو

کندلو په ماشین کی دتخنیکر په توګه کارکاوه او دشپی به یی « انستیتوت » کی زده کړه کوله روزنه یی سرته نه وه رسولی چی پوځی دندی ته وغوښتل شو هغه وایی : « په پوځ کی دنده سرته رسول زما دمزاج پر خلاف کار ؤ نو په روسیی کی څوك په خپلی خوښی کار نشی کولی »
په دی خاطر هغه پوځی مرکز ته حاضر شو تر اوو میاشتو هغه د«ترکمنستان » د « تاجك ټانك مرکز » کی دټانك چلولو روزنه وکړه دروزنی کورس ترخلاصیدو وروسته وازمویل شو او « سکورا » لومړی نمبر کامیاب شو دروزنی په دوران کی بیلا بیلو لاروداخبره دهغه زړه ته غورځول کیده چی دافغانستان پرخلکو سخت ظلم روان دی روسی پوځیان هلته دیرغل او ظلم ختمولو په خاطر لیږل شوی . « سکورا » کله چی دروزنی کورس ختم کړ د (۳۰۰) تنو ځوانو پوځیانو سره «

ترمز » ته ولیږل شو ددی ځای څخه به دوروورو ډلو په شکل هلیکو پتر وکی افغانستان ته لیږل کیده لومړی شپه یی د« کندز » په پوځی مرکز « دایران دشته » کی تیره کړه ، په دوهمه شپه د« بدخشان » مرکز « فیض اباد » ته ولیږل شو ددی ولایت پولی دپاکستان ، چین

یوه سیمه یاست « ارغو » نومی پوستی کی تیری کړی ددی ځایه څخه هغه « تاشقند » نومی پوستی ته تبدیل کړای شو « لیوکوف » نومی د هغوی دپوستی قوماندان ؤ « سکورا » په دی ځای کی د څلورو ټانکونوقومانده په لاس کی درلوده .
څومره وخت چی « سکورا »

په پوځ کې دنده سرته رسول زما دمزاج خلاف کارؤ ، نوپه روسيي کي هيڅوك په خپلي خوښي کارنه شي کولي

او روسیی سره وصل دی ، ددی ترڅنګ د « واخان » دره او لوړه څوکه ده چی روسان یی خپل هیواد پوری تړل غواړی تر څو د چین سره دافغانستان پوله له منځه لاړه شی .
« سکورا » اوه میاشتی « فیض اباد »کی تیری کړی په دی دوران کی هغه یواځی یوځل دخپل قوماندان څیره ولیده تردی وروسته هغه

دروسیی پوځ سره تیره کړ هغه ته په دی دوران کی د ذکر ورعملیاتو کی دګډون موقع په لاس ورنغله د « بدخشان » دنور وسیمو څخه دجګړوخبرونه راتلل چی په هغوکی به روسی پوځ ته زیات تاوان رسیده خو دروسی سیمه امنیت کی وه دجنګ څخه لری والی هغه ته دحقایقو دپیداکیدوموقع په لاس ورکړه ، روسی پوځ

ظلمونه ، دافغانانو هلو ځلو دښځو او ماشومانو عامه وژنه ، دی ټولو دهغه په ضمیرکی ستنی چوخولی . څه موده دهغه په ذهن کی جګړه روانه وه هغه پوهیده چی دجګړی څخه سرغړونه یا دپوځ څخه تیښته څه مفهوم لری ، که په دی کار کی ناکام شی د مرګ سره مخامخ دی خو ددی ټولو سره سره هغه د خپل هیواد ، قوم او کور سره خدای په امانی وکړه ، دمرګ امکانات یی ومنل ، دروسی پوځ څخه دتښتیدو فیصله یی وکړه او ضمیریی بلاخره بریالی شو. دخپلی تیښتی کیسی دبیانولو په ترڅ کی « سکورافلوتو» وویل : ماد« ارغو » په پوستی کی دپوځ څخه دتیښتیدو فیصله وکړه خو هلته دتیښتیدو امکانات دهیڅ سره برابرؤ خو د تاشقند » نومی پوسته کی داکار اسان ؤ ، دلته به هر پوځی دشپی لخوا دری ساعته پهره ؤ یوه شپه زما پهره ددولسو بجوڅخه تردریو بجو پوری ؤه دادتیښتی نادره موقع وه ، پدی خاطر ماخپل کلاشنکوف پورته کړ، پنځه مجلی می هم واخیستي په

بیلو بیلو جیبو نو کی می اووه سوه کارتوس ومند ل او دپوستی څخه وتښتیدم بهر ووتم دحالاتو جائزه می واخیسته او یوی خواته می حرکت وکړ، دشپی په تیاره کی چاتعقیب نه کړم ما (٦) کیلومتره سفر وکړچی د شفق سرخی را ځرګند ه شوه . یوکلی می تر نظر راغی د کلی څخه له راوتلی پرځمکه څوك اوږد غزیدلی ؤ وسله یی سرته ایښی وه زه ورو دهغه ترڅنګ ورغلم دمجاهدینو دپوښتلو په خاطر می ورغږ کړ ، هغه سمدستی راپاڅیده ، ما په اشارو هغه ته وویل چی مجاهدینو ته می ور ورسوی . خو هغه وسله راواخیسته او یوی خواته یی منډی کړی او چی لږ لری شو پرمایی ډزی پیل کړی ، ما پرځمکه ځان وغورځاوه او دهغه له ډزو می ځان بچ کړ ، ښایی هغه به زماپه باب غلط فکر کړی ؤ کیداشی هغه فکر کړی وی چی روسانو پرکلی حمله وکړه ، او زه هم دحمله کوونکو پوځیانو ځنی یم خوما په ډیر احتیاط سره دپرمختلو اراده پریښوده حتی امکان یی درلودچی

« نوربیا »

دادي سپيدې په چاوديدودي دافق لوري ته
دتورې شپې په سرو ديوانو دغم غرونه لوېږي
په نړېدو دي دکريملين دنحوست برجونه
دسور سحر په ملحدانو تندرونه لوېږي

پخوانی ادب:

دوطن مینه

ستادعشق له وینو ډك شول ځیګرونه
ستاپه لاره کی بایلی زلمی سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شی
بی له تامی اندیښنی دزړه مارونه
که هرڅومی ددنیاملکونه ډیرشی
ځما به هیر نشی داستاښکلی باغونه
دډیلی تخت هیرومه چی رایادکړم
زما دښکلی پښتونخوا دغرو سرونه
درقیب دژوند متاع به تارپه تار کړم
چی په تورو پښتانه کا ګوزارونه
د«فرید» او د«حمید» دوربه بیاشی
چی زه وکاندم په هر لوری تاختونه
که تمامه دنیایوخواته بل خوایی
زما خوښ دی ستا خالی تش ډګرونه
احمد شاه به دغه ستاقدر هیر نه کا
که ونیسی دتمام جهان ملکونه

«احمد شاه بابا»

دشهید ضیاالحق دډریم تلین په یاد :

په نمجنوسترګو دویر کرښی

سید شهریار

ای توریالیه : ستا ویاړلی کارنامی ، شجاعت پوهه ، تدبراو ستاخواږه یادونه له موږ څخه ستا نورانی مخ روڼ پراخه تندی او له نری خوږی موسکا څخه ډکه خوله نشی هیرولی ځکه ته غمخور وی ، تاغم خوړ یواځی دیوه ځانګړی قوم ، ملت او هیواد نه بلکی دګردی نړی دمسلمانانو ! تادنړی په هرګوټ کی دهر نژاد مسلمان یو ځان او یو وجود ګاڼه تا دمسلمانانو له منځه د بی اتفاقی او تربګنی جړی ویستل غوښتل تا دمسلمانانو دویښتیابه لپاره ډیری چغی ووهلی تا په هرنړیوال مجلس کی دزړه له کومی داسلام دمبارك دین مسلمانانو او دافغان مجاهدینو دکامیابی اوسرلوړی لپاره نه هیریدونکی هلی ځلی وکړی تاپه هر ځای کی دمسلمان په حال وژړل ، ستانه په یوه ځای کی هم اسلام او مسلمان هیرنشو تاتول عمر ځان داسلام یو سپاهی وګڼلو خو موږ څه خبر وو چی تاته به دمسلمانانو د مشری سره سره یو بل ستر ویاړ هم در په برخه شی . تاپخپله ایمانداری ، سپیڅلتیا او فقیری سره دافغانانو په زړونو او تاریخ کی ځای ونیوتاپخپل ژوند له موږ سره وفا وکړه موږ دی خپلی سینی ته رانږدی کړو او موږ ته دی پخپل زړه کی ځای راکړ . ته دهرچانه لومړی په ډیروحساسو شیبو کی زموږ سره په زغرده ملاتړ ته ودریدی تاته دهر لوری نه ډرکی درکړی شوی ځای په ځای ستاد مرګ دتوطئواو دسیسو جوړول پیل شول ستا دداروني لپاره یی تا ته څو څو کرته دسنړ، سنړ پاور اوږده ،اوږده نومونه واخیستل څو تاله خپل هوډ څخه واړوی نخو ستاهوډ فولادی ؤ ستا مثال دغره ؤ ته ددښمن هر ګواښ او ډرکی ته قوی او پوخ ودریدی تا ته پخپل هیواد کی هم دنورو ایجنټانو لخوا رنګا رنګ اغتشاشونه را پیدا کړای شول ، ځای په ځای سری لمبی او شنه ګولی پورته شول وینی وبهیدی او ستا دهیواد خلکوپکی خوږژوند له لاسه ورکړ . دغو خاینانو دبی وزلو مسلمانانو په وژلو او ژوبلو لو سره خپلی سیاسی

په ٥ مخ کي

ادبي اصطلاحات

ادبی لیکونه:

سیدمحی الدین هاشمی

هغونثری لیکونو ته ویل کیږی چی په ځانګړی هنری اوادبی بڼه لیکل کیږ ی.

ځینی ادبپوهان یی په دوکتګوریو ویشی .

۱- هغه ادبی لیکنی دي چی دفرضی مخاطب په نوم او عنوان لیکلی کیږی

۲ - هغه لیکنی دی چی دادیباتو ، لیکوالو شاعرانو سیاسی او تولنیزو ، شخصیتونو ترمنځ تبادله کیږی .

په ادبی لیکونو کی یولړ مهم انتقادی ، اجتماعی ، سیاسی ، فلسفی او ادبی مسایل لیکل کیږی ، خو ژبه یی هنری او ادبی بڼه لری او د تخیل رنګ پری غالب وی له استعارو ، تشبهاتو ، کنایو ، او نورو ادبی فنونو او صنعتونو نه پکی کار اخیستل کیږ ی . ژبه یی خوږه او دلیکنی طرز دومره ښکلی وی چی په لوستنه یی څوك نه مړیږی .

ادبی مکتب

ځینی خلك ادبی مکتب او ادبی سبك سره یوشی بولی ، خو دیو شمیر ځانګړنو له مخی دواړه جلا جلامفهومونه دي .

سبك دمکتب په پرتله نسبتاً ځانګړی ، محدود او فردی بڼه لری خو ادبی مکتب مفهوم پراخ او عام دی اوپه هغه کی دهنری اوادبی اثارو دلیکوالو او رامنځ ته کوونکو یوه ډله راځی .

همدارنګه سبك دیو شاعر یا لیکوال په ځانګړاثر اوداشعارو دیوان یا دنثری لیکنو مجموعه کی دهغه دلیکنی اوشعر بیان اوافادی له خاص طرز څخه عبارت دی خوپه ادبی مکتب کی بیادډی پرخلاف دیوی ډلی لیکوالواوشاعرانو دنظمی اونثری لیکنو یوشان ځانګړتیاوی اویو رنګ والی ترسترګو کیږی .

بل داچی بیلابیل خونسبتاً سره ورته خو ادبی سبکونه په یوه ادبی مکتب کی سره رایو ځای کیدای اویو په ګډه یو ادبی مکتب جوړولای شی ، خوځو ادبی مکتبونه په یو سبك کی نشی راټولیدای اویا په لنډه ژبه وایو چی ادبی سبك په یوه محدوده ټاکلی تاریخی دوره کی څرګندیږی خوادبی مکتب یوه پراخه دوره په بر کی نیسی .

«نور بیا»

دکتاب معرفي :

وروستی سلګی

دکتاب نوم: وروستی سلګی
لیکوال : اورنګ زیب ارشاد
خپروونکی : دانش کتابخانه ، جنګی محله ، پېښور
دچاپ نیټه : ۱۳۷۰ هـ ش زمری
دچاپ شمیر : (۱۰۰۰) ټوکه
دمخونو شمیر : ۹+۷۱=۸۰

وروستی سلګی دښاغلی اورنګ زیب ارشاد دلنډو کیسو لومړنی مجموعه ده چی په دی وروستیو وختو نو کی دانش کتابخانی جنګی محله ، پیښور له خوا په ډیرښه قطع او صحافت چاپ شویده .

کتاب تر کتاب پیژندنی او فهرست وروسته دسیدمحی الدین هاشمی په سریزه پیل کیږی چی په لومړی برخه کی یی دلنډی کیسی او په وروستی برخه کی یی دلیکوال په فن لنډی څرګندونی کړی دی . وروسته بیا دیوڅو خبری تر سرلیك لاندی دلیکوال خپلی خبری راغلی دی او وروسته په ترتیب سره د :

۱ - دسندیګال روغتون
۲- او هغه خپل حق اداکړ!
۳ - شرف یاب که نایاب ؟
٤ - زړی هیلی او زاړه وختونه
٥ - زنځیرونه
٦ - او آرمان یی وخوت
۷ - په سترګو کی دخوښی او ښکی وځلیدی
۸ - هغه بیا چاونه لیدله
۹ - او بیایی دمړی ژوندی پته ونه لګیده

س ، م ، د

۱۰ - هیناکه چیغه
۱۱ - وروستی سلګی
۱۲ - شین اسمان

سرلیکونو لاندی بیلابیلی افسانو دکتاب (۷۱) مخونه ښکلی کړی .هر افسانه یی زموږ دټولنیز ژوند ریښتنی عکاسی کوی لیکوال که دهجرت په چاپیریال کی دخپلو خلکو له دردونو او کړاوونو ډك ژوند دننداره چی په توګه هر څه وینی دقلم په ژبه یی له هیریدنی نه ژغوری او که دجهاد په سنګرونو کی دمؤمنو مجاهدینو ویاړلی کارنامی ، سوبی پخپلو سترګو وینی او یایی له نورو اوریدلی دلنډو کیسو په چوکاټ کی یی تلپاتی خاطری او افسانی ګرځولی دي . دافسانو ژبه یی خوږه او روانه ده ، دکیسو او خاطرو په بیانولو او دموضوعاتو په ټاکلو کی کله دومره احساساتی شوی

په ٥ مخ کي

تکل

ماستا سترګوغړولو په خاطر خوله په دوعاګانو اوپسی زیارتونو ته په منلو رامنلو ستری کړی وی .

ماستا دغوتی غوریدل دژوند یواحینی ارمان ګانه !!

ماستاموسکاته دیر ته ، ته اوپه په ویلی و ! ستایو به ، به ویل ماته ددی فانی نړی له تولو شتمنیو زیات و !

ماخپله توله شتمنی اوهستی تاته وقف کړی وه ! ته می دژوند دتولو ناخوالیو، کړاونو اومنلو رامنلو ثمره ګڼلی !!

مادیری لوری ، تندی تیری کړی خوستا غوستنو ته می دنه حواب نه دی ویلی .

ستاپر شونډو دخندا خپو ماته دتولو خوشحالیو اسباب برابرول !!

ماخپلی تولی خوشحالی ستاپه خوسی کی لټولی ! دشپی او ورحی فکراو ذکر مئ ته وی !!

خو!

ولی دژوند په وروستیو شیبو کی زه له تاڅخه لری وم !

دازماقصور مه ګڼه !!

ستادسینی خرا په دی لری واتن کی زما زړه له ګوګله رایستو ! دکورمی تکنده سری ګرمی ته ستالیت په لیت اوستو پر ما دغم غشی اورول !!

دمنډیز دلوری حوکو پرخو ترشا هم ستا به ، به څه شو؟ فریادونه اوسانو زما غورونه تخنول ماته اوس هم هغه صحنی مخی ته دریږی چی مور به دی ستافریادونو اوکریکو په وراندی یواحی اوسکی خځولی !!

ستا دژوند وروستی شیبی رایادول هره لحظه زما پرمخ داوسکو رودونه راروانوی !! دمور په غیر کی ستاساه ورکولو پر ما خوب حرام کړی !!

ګرانه زویه ! زه ستاوفا ته پریم !! ماهغه کیسی تولی اوریدلی چی ګور ته ترور تتیدو تازما دلیدو لپاره سترګی خلاصی نیولی وی !!

خو!

ګرانه زویه ! ته ما مه ګرموه زما بی وفایی بی وفایی نه دوطن او اسلام سره وفا وګڼه !! ما په دی حنګلونو اوغرونو کی ستا اوستا دنورو همزولو دخوشحالی اوسوکالی لپاره شپی سبا کولی !! زه هغو سروایریانو سره دغرو وهلو ته راغلی وم چی پر تا اونورو بی وزلو انسانانو یی خوب حرام کړی !! ماویخسه !! ای مظلوم شهیده !!؟

دغم غشی

عوض الدین صدیقی

چې ومې لیدل نوومې لیکل

محمد سرور قاطع

دوهمه برخه:

دمازدیګر شپږ بجې اوپنځلس دقیقې وې چې زموږد سپرلي موټر دومنډه ته ورسیده له دې امله چې یوې خوا داوږده واټن طی کولو وروسته زیات ستومانه شوی وو اودبلې خوا دمازدیګر دلمانځه وخت ؤ دعمري غونډ دجهادي مرکز ته ورښکته شو مجاهدینو په پوره نظم او صداقت دورسپارل شوو دندو په اجرا کولو بوخت وو ، هغوی زموږ تود هرکلی وکړ دلمانځه دادا کولو وروسته دحضرت عمر فاروق (رض) غنډ رئیس ارکان ډګروال صاحب سیدنعیم شاه مجاهدینو ته لازمې لارښوونې وکړې اودعایې تر لوستلو وروسته دزرمت په لور په ستونزورو لارو رهی شوو دعمومي سرك ښي خوا په امتداد دنګ غرونه واقع ، بله خوا لوی رود بهیږي چې پوري غاړې په لوړو ځمکو دکډرانو دقوم کورونه لیدل کیږي چې روسانو دمزدور رژیم دبمباریو په وجه یې دودانیو دیوالونه ړنګ اولویدلي ښکاري ، دزیاتي بمبارۍ له امله دغرونو ونې اوبوټي یا سوزیدلي یا نیمه تنه شوي دي ، خو دسیمې داوسیدونکو په څیرو کې دلوړ عزم ، همت او غیرت نښې ډیرې ښې لیدل کیږي ، وار په وار ددې دواړو خواو غرونو یو بل ته رانږدې کیږي دځمکي له مخې دورځې رڼا خپل ځای دشپې تاریکي ته ورپریښوده موږ دماښام په

خړه کې دسید خیلو دمنطقې څخه تیرشوو ، دماښام لمونځ موديوی ډبرې په سر ادا اوبیا روان شوو دشپې اته بجې وې چې وزی ولسوالی ته ورسیدو په هغو ودانیو کې چې نیمې لویدلې وې اوڅه برخې یې ولاړې معلومیدلې یونیم کور په کې استوګنه کوله ترلس دولس دقیقو منزل نه وروسته دمیراجان په نامه دکانونو چې هغه هم دبمباریو له امله ړنګ شوي حالت کې لیدل کیږي وروړسیدو .

ددنګو غرونو نږدې کیدونکې لوړ والي که له یوې خوا دشپې له تاریکۍ سره مرسته کوله نو له بلې خوا نه دغرنۍ لارې په لا کلکیدو اوسختیدو کې خپل عزیز قوت ثابتاوه زه هماغسې دورانو ، ویجاړو ، کنډوالو ، کورونو اودسیمې دخلکو دژوند شرایطو خیالونو اوسوچونو په مخه اخیستی وم چې دسفر ملګري حاجي صاحب عبدالجبار خان راته غږ کړ چې معلم صاحب ! دادی اسماني زرهدارو قرارګاه ته راورسیدو دلته دالحاج خلیل الرحمن دزرهدارو دغونډ مجاهدینو مرکز دی داسیمه دستو کنډو جنوبي اړخ ته پرته ده ، په نوموړې قرارګاه کې چې ما په لومړي نظر داسلام دسپاهیانو څومره لوړه روحیه اوعالي احساسات او اوچتې حوصلې ولیدلې هغه زه پوره نشم انځورولی په

قرارګاه کې مې یو مجاهد سره چې محمد شریف نومیده او پلار یې ملا کلال څوکاله پخوا دروسانو اوګوډاګي رژیم دقواو سره په یوه مخامخ جنګ کې په شهادت رسیدلی دی پیژندګلوی وشوه هغه زما دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل : ددوو نیمو میاشتو راهسې چې په نوموړې قرارګاه کې دمسؤل په حیث دنده سرته رسوم موږ وظیفه لرو چې دماتې خوړونکې دښمن په مقابل کې لومړۍ خط ته اکمالات وکړو په عمومي عملیاتو کې برخه واخلو ، لارې جوړې کړو اودمجاهدینو دپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړو ، محمد شریف په اخره کې دټولو تنظیمونو دمشرانو نه داتفاق غوښتنه کوي نهه بجې اوشل دقیقې وې چې داسماني مرکز څخه دزرمت په استقامت په هغو لوړواوجګو غونډ هسك شوو چې سې اوکین لوري ته یې دنګ دنګ غرونه واقع وو ، دلر واټن تر طی کولو وروسته راته مجاهد ورور حاجي عبدالجبار خان وویل معلم صاحب هغه مخامخ

دسروني ښکلي دره ده چې په سمسوره ونو بوټو پوښلې ده دغلته دمجاهدینودنومیالي مشر حقاني صاحب هستوګن ځای دی .

دسپرلي موټر سترګو رڼا دشپې دخوری شوې تاریکي سینه څیروی ، پر مخ ځي اودسفر لار لنډوي شنې اوزرغونې درې اوپه خوړ کې دبهیدونکو اوبو آواز او تازه هوا مو روح او زړه ته خوښي رابخښله ، دغلته له موټرنه ښکته شوو زموږ دلارې ملګري راغږ کړ : دا وړاندې دنومیالي مجاهد او دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دمرستیال مولوی نظام الدین حقاني مېنه ده ، یوه شیبه وروسته موټر بیرته حرکت وکړ . سره له دې چې هره خوا دشپې تیاره خوره وه غونډیو غونډیو وریځو داتاریکي یو په دوه کوله ، موټردچراغونو رڼا په مرسته له لوړو ژورو نه ډیر ورو ورو تیریده . ماچې دشپې په تیاره کې دلارې ترڅنګ وراني او شړې کنډوالې ولیدې دحال په ژبه یې راته دتیر شوي غم داستان بیان کړ او زما احساسات یې را وبوږنول .

اوس دلته دغرونو هغه طبعي سمسورتیا اوګڼو ونو ځنګلونو ښکلا په پخواني بڼه نه ده پاتې په هرڅه کې یو ژوربدلون راغلی دی . دغرونو په لمنو او ډډو کې دلویو ونو ستې بیخونه غوڅ شوي او په نظر راځي او بالاخره ټوله مادي شتمني له منځه تللې ښکاري . دروسي متجاوزینو

او دهغوی دنوکرانو له خوا دپرله پسې درنديمباريو او دډول ډول سوزونکو او ورانونکوبمونو دغورځولو او چاودنو په نتیجه کې یې دې سیمې ته ډیر زیات تاوان رسولی دی .

دشپې یوولس بجې او پنځه دقیقې وې ، موټر دسرك په کړلیچونو کې غورځې پرځې کولی ، هغه نرۍ لیار چې داتلو مجاهدینو دمټو په قوت دجهادي اکمالاتو او تګ

راتګ په منظور ددنګو او هسکو غرونو په سینه کې لوړې نقطې ته نیغه شوې ده . دلارې په اوږدو کې لاپسې ستونزوره کیږي زموږ دسپرلي موټر کابو دنیم ساعت منزل وروسته دغره لوړې څوکې ته ورسیدو همدغه دغره لوړه څوکه دکډرانو اوږده سیمه دزرمت له سیمې سره وصلوي دغلته له یوې لنډې دمې وروسته په ځوړند تاوراتاو سرك دګاویانی تنګي ته ورښکته شوو دسپرلي موټر ورو ورو دلوړو او ژورو او کنډو کپرو نه په تیریدو سره دزرمت په لوري لاره لنډوله د لارې په اوږدو کې هیڅ داسې جلګه . سمه ، غر او حتی د عمومي لارې داسې ځای نشته چې د بمبارد او لرې واټن وشتونکو توپونو دګولیو دچاودیدو له امله مصئون پاتې وي .

«نوربیا»

وروستی ...

چې دافسانې لیکنې اصول او معیار یې له پامه وتلي او په دې کار یې دکیسې روح هم څه ناڅه ژوبل کړی دی .

که دلیکوال ټولې افسانې دفن له مخې په تمامه معنا پوره ونه څیږو نو بیاهم یې ددې فن دیو داسې مبتدي لیکوال لپاره چې پدې لاره نوی قدم ږدي او خپل قلمي ځواك ازمایې ، یو ښه کامیاب او پرځای کوښښ ګڼلای شو - چې په نږدې راتلونکې کې په دې برخه کې دلیکوال دښه پرمختګ ، او برتګ څرګندوی ترې ـ

کیدای شي.په پای کې زه په داسې حال کې چې دااثر دپښتو په جهادي هنري ادبیاتو کې یوه ښه اضافه بولم ښاغلي ارشاد صاحب ته دچاپ مبارکي وایم ، دادب مینه وال یې لوستلو ته بولم او دد ی اثر خپروونکي ددانش کتابخانې خاوند ښاغلي اسدالله جان ته چې ددیني علمي اوادبي کتابونو دخپرولو لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوي ، دلوی خدای (ج) په دربارکې دلابریالیتوبونو او داجراو ثواب دعاکوم.

په نمجنو سترګو د ...

دوکاندارۍ ته ځلاو پرقاورکړه بادارته یې ځان وفادار معرفي کړاو ...

خو ته بیاهم ددغو دخرڅوشویو ګوډاګیانو په فریبانه چل ول ونه غولیدې له دړکو یې ونه ډاریدې او دافغاني سرښندونکو مجاهدینو سره دې خپلې ملګرتیا او ملاتړ ته ادامه ورکړه ځکه موږ په حقه وو او ته دحق ملګری . زموږ ولس اتل وو ځکه یې ستا په څیر اتل ملګري په برخه شو ستا په زړورتوب همدادلالت کوي چې ته دسرو وحشي روسانو او هندوانو په ځمکووګرځیدې او بې له کومې ویرې دې ورسره دهغوی په ځمکو سترګې وجنګولې ستا په زړه کې ویره او ترهه نه وه ستا په سینه کې دیوه خدای (ج) ویره او ترهه ځای په ځای شوې وه نوری ویر ی پکې نه ځایدې . ته له مرګ نه نه

ویریدې ستالوی مقصد په افغانستان کې دالحاد او فساد پای ته رسول او هلته دیوه سوچه اسلامي دولت جوړول ؤ ستاارمان لا پوره شوی نه ؤ او دسرته رسیدو په حال کې ؤچې له یوې خوا سور لیوه په ګونډو شواو بیاپه تښتیدوٲتالیدل او پخپلو دواړو عقابي سترګو دې لیدل : دغه ورځ ستا په نوراني مخ او شونډو خوښي او خوشحالي تبسم او دځوانو هیلوځوانه موسکا ځغلیده راځغلیده تاویل : زما دزړه ارمان ورژید اوس به ډیر زر هلته مسلمان واکمن شي خو ستا دغه ارمان دډیرو داخلي او خارجي اسلام ضد عناصرووپه سترګوکې ازغي شوستا دلرې کولو لپاره ګډ پلانونه په کار واچول شول اوس ستا ژوند طاغوتیانو دځان لپاره لوی خطر ګاڼه ځکه ته دمسلمان په یوموټې کیدو اوراوبښهدو بوخت وې ، طاغوتیان ښه

پوهیدل چې ستا او دافغان مجاهدینو له لاسه به دکفر لویو درمنلونو ته داسلام سیپرغي ورالوځي او غټي کفري واکمنې به له ذلالت سره مخامخ کیږي نو همغه وه چې ستا دمرګ پلان یې طرح او په عمل کې یې پلي کړ.

ستادشهادت لوړ او سپیڅلی ویاړپه برخه شو.

هو! ستا دنوراني مخ او روڼ پراخه تندي په کونځو کې دشهادت سپینو رڼاګانو ځلقلونه وهل ستا په مخ تل خپرې موسکا لادمخه تا ته دشهادت زیری درکاوه هو: ته خپل خدای (ج) ته دشهادت له ویاړ سره ورغلی دښمنان بریالي شول چې خپل شوم اهداف تر سره کړي

دښمنان بریالي شو ل چې زموږ دنمجنو سترګواوښکې راماتې کړي موږ ستاشهادت دخپلو ټولو مجاهدینو ورونو دشهادتونو په څیر وخوږولو خو همدغه لویه ورځ به دلوی خدای (ج) نه په تالویه

پیرزوینه وه ځکه تاابدي خوشحالي وګټلې او ته ابدي ژوندي وختي.

نن هم زمونږ دنمجنو سترګو څخه ستاددریمې کلیزې په مناسبت اوښکې څڅیدې ته رایادشوی او ستا ویاړلې کارنامې ! موږ چې دشاه فیصل جومات پلو وکتل نو د انسانانو یو لوی سمندر موجونه وهل هلته انصارو او مهاجروپه ګډه سره په اوښکو ډکو سترګو دلوی خدای نه ستا دپاره او دټولو شهیدانو لپاره مغفرت غوښت هلته دقران درستینو ایاتونو په خوږو اوازو خوږې زمزمې پورته کیدې هلته ستاد پاره په جنت کې دلوړمقام غوښتنه کیده په موږ یو ځلې بیا ستا خواږه یادونه دپشکال دباران په څیر راووریدل ستا میړانې اوکارنامې رامخې ته شوې نوموږ هم په جهادي سنګرکې ستا دپاره لاس په دوعا پورته کړل او دخپله خدایه مو دخپلې کامیابۍ او ستاسره دګرلو شهیدانولپاره دمغفرت دوعاوې وغوښتې !

نجیب ته په اندیښنو کې اندیښني پیداشوي

مولانا محمد اسحق نظامي

له کومی ورځی نه چی دروسانو په دستور اوقومانده ببرك کارمل ددی لپاره چی نور دده دافغان وژنی په وینو تك سره لاسونه یوازی افغانانو ته نه بلکه تولی نړی ته په ډاګه اوپرملاشول اونور نشو کیدلای چی له دغی نانځکی ځخه کار واخیستل شی اودروسانو دغرش اوپرش هغه دبدبه اورعب چی غوښتل یی په زوراوډوسلو په استعمال خپلی ارزوګانی ترسره کړی نویو بل لوی جلاد اودافغانانو اصلی قاتل دنجیب په نامه چی دروسانو دشیطانی فکراوپلان له مخی په ظاهره کی دخلکو له نظره پټ ساتل شوی وو راوراندی کرلی شو اودبی واکه قدرت په ګدی یی کښینول شو . خودادروسانو خائینانه شیطانی پلان ؤ چی ډوی جوړکړی ؤ که نه دواقعیت له مخی خبره داسی نه وه دافغانستان مسلمان مجاهد ملت له تره کی نه نیولی ترواړه بریځی پوری که هغه امین و که کارمل اوکه کوم بل غل ټول ورته ګوته په ګوته معلوم اوهم دنجیب ټول اړخونه اودژوندانه کوایف ورته په ډاګه لوڅ اوښکاره دی اوهم پدی پوه اوباخبره دی چی نجیب دخاد دډوری دخپل ریاست ټوله دوره پداسی حال کی تیره کړی

چی دهمده په لاس اوقومانده دلکونو بی ګناه افغانانو وینی فقط داسلام اومسلمانی په جرم بـهـول شـوی نامعلوموځایونو کی کندی ورته ایستل شوی اوپه ډله ایزه توګه دبلدوزرو په وسیله خاوری پری اړول شوی دی چی بی شمیره میندی بوری اوتنکی یتیمان یی اوس هم دخپلو پلرو په ارمان په کوځو کی پښنی ابله اوسربېر لالهانده منډی رامنډی وهی نجیب چی ځنګه قدرت ته ورسید دخپل بادارد طرحه شوی پلان له مخی چی نور په زوراوډوسلی په استعمال کار نه کیږی بلکه له یوی ورځی نه بلی ته دافغانانو دقهر او غصی څپی نوری هم طوفانی کیږی اودجګړی په ګرم سنګر کی نن هلته اوسبا دلته ټول ځایونه تری نیول کیږی نویی مخالف جهادی ځواکونو ته دملی پخلاینی روغی جوړی اوسولی سوال اوزاری پیل کړه خولله

> **دنجیب په لاس اوقومانده دلکونو بي ګناه افغانانو ویني فقط داسلام او مسلماني په جرم بهول شوي**

الحمد برسیره پردی چی مومنو مجاهدینو ددوی هرشیطانی ورانديز ته چی دمکرچل اوفریب نه ډك وه منفی ځواب ورکړی اویوازی په خوله نه بلکه دټوپك دشپیلی په وسیله په کلکه سره درد ډزونه پری کړی هلته په داخل کی هم له سختو بی اتفاقیو اوځانځانیو سره اخته اودوی هغه شیطانی اومنافقانه پلان چی مومن مجاهدین پری تیر باسی اودملی روغی جوړی په دغه لومه کی به یی راګیر کړی په ځای ددی چی څه کار یی ونکړ نجیب دده دزړه ستنی دمومنو مجاهدینو دکفر ځپونکو ګوزارونو په مقابل کی دتسلیمی لاسونه پورته کوی اوپه پرله پسی توګه ولایتونه اوولسوالی یی له قبضی وځی اوس چی په دی وروستیو وختو کی کارمل ځنګه کابل ته راور سول شو دنجیب په اندیښنو کی نوری

اندیښنی راپیداشوی . نجیب ته که پخوا سل غمونه اوستونزی مخی ته پراته وو اوس زرچنده له افتونو اومصیبتونو سره اخته دی ځکه چی کارمل دهمدی پلان له مخی روسانو راالیږلی ترڅو نجیب چی ددوی ترینه دملی روغی جوړی دشیطانی پلان دعملی کیدو طمعه توقع کیده هغه پوره نشوه اولا یی ددی مصیبت اورته لمنه ووهله که دی وکولای شی دهغی نوی ښوونی اوزده کړی په اساس چی روسانو ورته په اصطلاح دده داقتدار دڅوکی نه دګوښه کیدو په موده کی په مسکو کی پیچکاری کړی وی یوڅه بله لارغوره اودافغانستان داستعمارولو په پلان کی کامیاب شی دبحث داوږدوالی دمخنیوی په خاطر به دموضوع دااړخ پریدو چی روسانو کارغل ته څه ښوونه کړی څه یی ورته ویلی اودڅه لپاره یی رالیږلی دی غواړو په دی یوڅه وغږیږو چی دکارمل راتګ کابل ته دنجیب په اندیښنو کی نوری اندیښنی راپیداکړیدی اوهغه داچی

څه موده وړاندی فرید مزدك په ډاګه وویل چی چا له کارمل سره لیده کاته و کړل اویایی په هره وجه چی وه ارتباطات ټینګ کړل هغه ته به داساسی قانون دماده سره سم سزا ورکول کیږی

مطلب داچی دایوازی دمزدك دخولی خبره نده بلکه دادنجیب له لوری پدی خبره کی بشپړ نمایندګی ده چی ده یی کوی اودنجیب اودهغه دباند دتشویش ښکاره ثبوت دی چی له دوی سره داویره ده چی کارمل ملګری پیدا نکړی اوهغه وړاندنی انتقام چی نجیب ورځخه قدرت اخیستی وواوپه دغه بی واکه قدرت دکارمل په شان ناست دی ترینه واخلی . نوداچی له یوی خوا داتلو

مسلمانو مجاهدینو پرله پسی بریالی عملیات په بشپړه توګه روان دروسانو دمزدور رژیم وسله وال کسان ډلی ډلی هره ورځ مجاهدینو ته تسلیمیږی ولایتونه اوولسوالی یی له لاسه وځی داسی میاشت اوهفته دی نوی چی په خلاف یی په دننه کی پاڅونونه نه کیږی اویا ورځ په ورځ سیاسی حریفان یی نه اضافه کیږی اوبیا ورته داقتدار اوکرسی وږی کارمل ته ورته په نژدی ساحه کی ځای ورکول کیږی اوروسی بادار یی هم نوردهغه داقتدار نه دلیری کیدو په تکل کی دی داټولی هغه ستونزی اوکړاوونه دی چی دنجیب نه یی نوره دتیښتی لارورکه کړی اواندیښنه یی نوره هم زیاته شوی ده شپه او ورځ په اندیښنو کی ډوب اوهرڅوك ورته ددښمن په څیره کی ښکاری داچی دده دزیات تشویش اوشك په اثر دوست یی ورك کانی اوبوټی ورته دښمنان دی نه ورته عزم پاتی اونه اراده چی دادواړه یی سلب دی نوداپه یقین سره ویلای شو چی نوره یی دوحشت کمپله په ټولیدو ده اوډیر ژر به که خدای ته منظوره وی دمومنو مجاهدینو په لاس دافغانانو په خوښه دیونیم ملیون نه دزیاتو شهیدانو په تویو شویو وینو خړوب شویو باغونو دونو ثمری به ترلاسه اویو سوچه اسلامي حکومت په ګران افغانستان کی قایم شی .

ومن الله التوفیق

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ...

چې باید دواړ د خوښې اجنټوري کارونه سرته ورسوي دمثال په ډول دنوموړي شخص لپاره داسي ډوسیه جوړه وي چې دپلان شوي سناریو په واسطه یې منځ ته راوړي وي اودهغې په نتیجه کې ذکرشوی شخص یاپه اعدام اویا اوږده بند باندې محکوم کړي نو بیا داورته وړاندې کوي چې که چیرې دموږ سره داسې کمك وکړې موږ به دې له اعدام اویا بند څخه وژغورو نو په دې صورت کې که ذکر شوی شخص داعدام اویا بندیخانې طاقت اومیړانه نه درلوده نوبیا داجنټورۍ کارته غاړه ږدي ، برسیره پردې کوم شخص چې دواړ لپاره داجنټورۍ په اړوند مهم ښکاره شي اودنوموړي شخص جذب کول په عادي ډول سره امکان ونلري نوبیا یې خصوصیات مطالعه کوي اودهرشي سره چې زیاته

علاقه لري دهغه دتیارولو په اړوند یې ترخپل نفوذ لاندې راولي کیداې شي دجنسي مسایلو په اړوند وي اویا داچې دنوروحیاتي مسایلو په رابطه ترسره شي .

کې ، جي ، بي دواړ په واسطه سره دامکان په صورت کې په ټولو هغو ځایونو کې چې انسان ژوند کوي خپل اجنټان اوریزدینټان تیت کوي دکابل رژیم په ادارو اوموسساتو کې دهرې موسسې آمر ته دواړ رسمي کارمند ورمعرفي کوي ، په دې صورت کې دموسسې آمر مجبور دی چې دهغه لپاره ټولې اسانتیاوې کومې چې په اجنټورۍ کارونو کې موثریت لري تیارې کړي دغه رسمي کارمند په ورسپارل شوي موسسه کې درژیم ضد کړه وړه دهغې موسسې داجنټانو په ارتباط ترخپل کنترول

لاندې نیسي دبله طرفه دبعضو موسسو آمرینو اوکارکوونکو ته په پټه دواړ درسمي کارمندانو امتیازات ورکوي په همدې ترتیب سره یو شمیر خپل کارمندان درژیم په اداراواوموسسو کې دیوه نوي شاملیدونکي شخص په توګه نصب کوي دغه نوي شامل شوي اشخاص ظاهراً دهغې موسسې کار کوونکي ښکاري خو په واقعیت کې دواړ رسمي کارمندان وي. برسیره پردې درژیم په مختلفو موسسو کې کومې چې دکې ، جي ، بی لپاره نسبتاً زیاتې مهمې دي دهغې موسسې تر پردې لاندې دواړ مدیریتونه آمریتونه او ځانګې جوړوي دمثال په ډول دسرحداتو په وزارت کې داداري اوتبلیغاتو ریاستونه ظاهراً دسرحداتو په وزارت پورې تړلي دي

لاکن دهغوی کار کوونکي دواړ رسمي کارمندان دي . همدارنګه دپاکستان اړونده هغو پښتنو اوبلوچو محصلینو لپاره کوم چې په کابل پوهنتون کې تحصیلات کوي په هغوی کې داجنټورۍ کارونو دپرمخ بیولو په خاطر دنوموړي وزارت تر نامه لاندې خاص مدیریت پرانیستی دی.

له دغو کړو وړو څخه دروسانو اصلي هدف دادی چې په افغانستان کې په دایمي ډول سره نفوذ اوتسلط ولري اوهم ددې لارې څخه په پاکستان اوایران کې شیطاني اواستعماري فعالیتونه لانور هم ګرندي کړي. نوکله چې په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدې په شپږمه یې پر افغاني خاوره دخپلو نظامي قواو په واسطه پوځي تیری وکړ په سیاسي ، اقتصادي ،

کلتوري ، ایدیالوژیکي اونورو ټولنیزو اړخونو کې یې پر ټولو امکاناتو سره دتغیراتو په رامنځ ته کولو پیل وکړ اوپه ۱۳۶۱ هـ ش کال کې یې په روسي پښتو او فارسي ژبو باندې داسې روسي نقشې جوړې اوچا پ کړې چې افغانستان دروسیې دشپاړسم جمهوریت په شکل ښودل شوی ؤ خودغه نقشې یې په افغانستان کې له خپرولو څخه څو ورځې وروسته بیرته ټولې کړې . همدارنګه روسانو غوښتل چې دمجاهدینو سره دجګړې مسله په څو میاشتو کې حل کړي نو ددوی نظامي قواوُ دداخلیدو سره سم یې په وحشت اوبربریت پیل وکړ نه یې دوړو ، زړو ، ښځو اوسپین ږیرو په شهیدولو صرفه وکړه اونه یې کورونه ، کلي ، دکرمځکې ، باغونه او کاریزونه روغ پریښودل خوچې هر څومره دروسانو

ددوی لاس په نامه غلامانو په واسطه (خلقیانو، پرچمیانو اونورو مزدورانو) سره دافغانستان مسلمان ولس شهیدول اوړ وینو تویدل ډیریدل په همغه اندازه سره دمجاهدینو مقاومت ، میړانې اوقربانۍ زیاتیدې اودایونه انکار کیدونکی حقیقت دی چې افغاني مجاهدین اومسلمانان داسلام او اسلامي خاورې څخه په دفاع اوساتنه ایمان او مقاومت کې دویاړونو اوسربښندنو نمونې دي اوددغه دغیرتونوکور ددوی دشهادت په وینورنګ شوي هره تیګه اوهربوټی لوی لوی تاریخونه بیانوي اودهر مجاهد دژوند یوه کوچنۍ شیبه دننګونو اوقربانیو ستر تاریخ دی اما تاریخ لیکونکو ددغو توپاني سیلابونو دیوه ځانځکی تاریخ لیکلو قدرت او امکانات هم هغه ډول چې لازم دي نه دي پیداکړي . هغه به دکارمل دپوځیانو له جملې ځنی ؤ .

پر گردیز دعمومي ...

پوښتنه : کله چی په دی وروستیو وختونو دملګرو ملتونو دافغانستان دمسلی دسیاسی حل په رابطه پنځه فقره ایز پلان وړاندی کړی اوددی ترڅنګ یو لړ نوری پټی اوسکاره هلی ځلی روانی کړی چی هدف یی دافغانستان په راتلونکی حکومت کی دخلق ، پرچم ناولی ډلی ته سهم ورکول دی تاسی دسنګرونو دیوه قوماندان په توګه دامسله څنګه ګڼی ؟

ځواب : زما په نظر دافغانستان مسله په هغه وخت کی حل کیدای شی چی دکابل دګوډاګی رژیم مشر نجیب دملل متحد له طرفه دافغانستان دجنګ دمجرم په صفت معرفی شی اوبی قیدو شرط دقدرت څخه لاس واخلی اودمجاهدینو له خوا منتخب شوی حکومت ته قدرت وسپارل شی .

پوښتنه : که دسنګر مجاهدینو ته څه پیغام لری ؟

ځواب : زما له طرفه دسنګرمجاهدینو ته داپیغام دی چی دروانی دسیاسی حل پړدور اوازو باندی چی شرق اوغرب په ګډه په کار اچولی تیرنه وځی اودملحد دښمن په ضد خپلو عملیاتو ته لا چټکتیا ورکړی ، ځکه مخکی همدغو خلکو داخبره کوله چی مجاهدین نه شی کولی یو ښار فتحه کړی ، خو دالله (ج) په فضل سره مجاهدینو وکولای شول چی په ډیر کم وخت کی دخوست ښار چی دروسانو دمزدور رژیم ته یی مهم ستراتیژیك ارزښت درلود فتحه کړی همداسی به په ډیره اسانی اوکمو تلفاتو سره دافغانستان هغه سیمی چی دکمونستانو ترتسلط لاندی له ناولو پنجو څخه خلاصی کړی اویو اسلامی حکومت به په افغانساان کی منځ ته راشی اودشهیدانو وینی او مسلمانو مهاجرو او مجاهدینو تکلیفونه به دجهاد په برکت بی ځایه ضایع نه شی .

اروپايي تولنه اوديوگوسلاويا شخړه

دټوپاس اید برن لیکنه

ژباړن : شکور محمد

داروپایی تولنی مشران وایی چی په یوګوسلاویا کی دتاوتریخوالی اونورو تولو کړکیچونو له منځه وړل او اوارول داروپائیانو کورنی معامله ده .

نوځکه یی څه موده دمخه هغه هیئت چی مشری یی ددریو هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو په غاړه وه بلګراد ته لیږلی دی ترڅو نوموړی هیواد له روان بحران څخه په اسانی سره بچ کړی

دایتالیی لومړی وزیر ګیولیو اندديوتی په دی عقیده دی یوګوسلاویا باید له هغی کورنی جګړی څخه چی اوس په تدریجی توګه په نوموړی هیواد کی مخ په زیاتیدو ده

وژغورل شی ، خواروپایی تولنی ته دفرانسی ، انګلستان ، هسپانیی اوهالیند له خوا خبرداری ورکړی شوی دی چی دنوموړی ستونزی دحل لپاره دی سمدستی دهغو مرستو له ځنډولو څخه چی یو ګوسلاویا ته ورکول کیږی کار وانخلی.

ایتالیا دیوګوسلاوی ګاونډی هیواد دی ، اوداروپایی تولنی دهغودولسو هیوادونو مشرتوب یی هم په غاړه دی درامنځته شوی شخړی دسمدستی حل غوښتنه کوی اووایی پخواله دی چی دنوموړی تولنی دراتلونکی اجندا پراصلی موضوعاتو خبری پیل کړو ، باید

دیوګوسلاوی کورنی شخړه موحل کړی وی .

هیلمیت کول وایی « کله چی دتینکونو زنځیرونه تاویږی خلك وشنل او مړه کیږی ، نو دایوه ډیرغمجنه صحنه ده په داسی حالاتو کی به څنګه پرعادی موضوعاتو خبری وکړی شو ؟ ترهرڅه دمخه باید همداشخړه اواره کړو »

«دانګلستان دبهرنیو چارو وزیر دوګلس هارد وایی چی موږ باید داسی لاری چاری پیداکړو چی هرڅه ساړه کړی ، دیوګوسلاوی شخړی ته دټولی اروپا له پاره دتیری سړی جګړی میراث هم ویل کیږی ، اوس نو اروپایی تولنه ځان نیکمرغه بولی چی یو ځل بیا خپل بنستیز اصول په سیستماتیکه توګه وڅیړی ، اودنوموړی تولنی غړي هیوادونه په خپلو کورنیو بهرنیو او دفاعی چارو کی څه ناڅه بدلون راولی ، سره له دی چی داروپایی مشرانو

ترمنځ داوږدی مودی اختلاف نظر دلږکو « اقلیت » دحقوقو دتامین په هکله چی دوی دی په علمی توګه دهغوتولو انسانی حقوقو خاوندان شی چی دنن ورځی هرانسان ورته ضرورت لری هم شته دی .

دفرانسی جمهور رئیس میتران ویلی دی « چی نوموړی تولنه دفردی خپلواکی مخالفه نه ده ، خو داسی هم نه چی دسیمه ائیزو بشپړتیاوو دتهدید سبب شی »

داروپایی تولنی زیات شمیر مشران په دی خبره ټینګار کوی چی نوموړی تولنه په دی عقیده ده چی دامریکا متحده ایالات اوروسیه دی دیوګوسلاویا دننی بحران په هکله هیڅ نوع ځانګړی اقدامات نه کوی اواروپا ته دی وخت ورکړی شی چی خپل کړکیچ پخپله اوار کړی.

«نوو بیا »

دجهاد فلسفه

مولوي عبدالمجید

دپنځمې برخې پاتې

جنګ ، دلوټماری ، ظلم ، زیاتی ، زنا ، فحشا ه ، چپاوول .....کړن لاره ده او اساسی هدف یی دنورو انسانانو استیلا، بربادی .... ده او ځینی وختونه ځینی کافران دنورو څخه دځان دخلاصون او استقلال لپاره هم دجنګ قضیه غوره کوی او داسی نور صورتونه هم جوړیدای شی اماجنګ او جهاد هیڅکله دیوځای کیدو قابلیت نلری سره لدی چی

پیر نږدی اوسره ورته نسبتونه اوخصوصیات هم لری . که دچا سره داسوال پیداکیږی چی د افغانستان په اسلامی برحق جهادکی هم ځینی کمی ، سهوی ، او اشتباه ګانی کله کله تبارز کیږی چی دجهاد حقیقت ته صدمه رسوی داسوال دی موردکی د تشریح قابل نه دی ځکه دایو اوږد سوال دی چی داشخاصو د تشریح او پیژندسره اړوند دی انشاالله پخپل ځای کی به ښه واضح او څرګندبیان شی .

له روسانو سره دمجاهدینو...

روسان اوس په دی ښه پوهیږی چی په افغانستان کی ددوی تردوو لکو زیات په هرډول وسلو اووسیلو سمبال پوځ چی ترڅنګ یی ټول سوسیالیستی بلاك هم ولاړ ددوی دلاسپوڅی اومزدور رژیم بقا اوپایښت تضمین نشو کړای خامخا به دغه بی بنسته رژیم رانسکوریږی ، نودااودی ته ورته مذبوحانه هلی ځلی ددی لپاره کوی چی په راتلونکی حکومت کی دخپلو مزدورانو په وسیله ځانته دپښی ایښودلوځای پیداکړی .

موږ دجهاد په سیاسی ډګر کی له روسانو سره دمجاهدینو دهیئت مستقیمی لیدنی کتنی اودخبرو اترو لړی جاری ساتل په دی لاندی دوو شرطونو ګټوره بولو چی :

١– هسی نه چی یوازی ددغو اودی ته ورته خبرواترو اومذاکراتو په تمه دجهاد سنګرونه ساړه کړای شی ، بلکه دخبرواترو ترڅنګ دي تروروستی بری پوری ءوسله وال جهاد ته ادامه ورکړل شی .

٢– له هیئت سره دلیدنی کتنی په وخت کی باید دمجاهدینو هیئت دټولو جهادی غواکونو اوصفونو دغوښتنو او واحد دریځ نمایندګی وکړی .

مذاکرات مستقیم بین مامورین سرحدی روسیه وهیات شورای نظار جمعیت اسلامی

بدخشان ، ۲۰ اسد :

به اساس گزارشیکه دفتر مطبوعاتی شورای قوماندانان به اسناد ازپیام مخابروی قوماندان احمد شاه مسعود رئیس عمومی شورای نظار جمعیت اسلامی ، به اداره جهاد هنداره فرستاده است گفته می شود که یك هیات کمیساری سرحدی شورای نظار جمعیت با هیاتی ازکمیساری سرحدی روسیه درمورد مسایل سرحدی جانبین مذاکرات انجام دادند

منبع مذکور درگزارش ارسالی خویش گفته است بعد ازفتح مراکز مهم نظامی رژیم کابل درشمال کشور درسرحد با جمهوریت های مسلمان نشین روسیه ، مقامات دولتی روسیه از این موضوع هراس دارند ، که مبادا مجاهدین با مسلمانان مقیم این جمهوریت ها درتماس شوند ، وباعث تحرکات سیاسی درانجا شوند .

خبر می گوید مذاکرات بین هیأت های مجاهدین و روسیه برسرپل دریای اشکاشم درمرز روسیه وافغانستان انجام یافت وبرموضوعات ذیل موافقه صورت گرفت . هردوجانب نباید درسرحدات وخاك یكدیگر مداخله نمایند ، جانب روسیه باید افراد فراری ملیشه رژیم مزبور را وهمه وسایل نظامی که آنها باخود به خاك روسیه برده اند ، دوباره به مجاهدین تسلیم دهد ، حین بروز مشکل سرحدی برای هردوجانب باید جانب مذکور پرچم سفیدی رادر هوابلند نماید ، ومنطقه وسط پل دریای اشکاشم محل معین برای مذاکره هردوجانب تعین گردید حکومت روسیه باید کمیساری فعلی سرحدی خود راکه ازسرحد تجاوزنموده ودرخاك افغانستان جابجا است تغیر دهد ، مرکز مذاکره بین هردوجانب سرحدی وسط پل دردریای اشکاشم است .

جانب روسیه درمذاکرات تقاضا کردند که مجاهدین باید فراریان اتباع روسیه رادوباره به مقامات مربوط روسیه تحویل دهد که این پیشنهاد ازجانب مجاهدین ماکول به موافقه مقامات رهبری مجاهدین درپشاور گردید .

گزارش دفتر مطبوعاتی حاکیست که همه جریان مذاکرات مربوط به مسایل سرحدی هردوجانب بود ، وهیچ نوع جنبه سیاسی نداشت.

په خورد کابل کي درژیم ...

دکابل ولایت څخه میډیا ته په رسیدلو خبرونو کی ویل شوی چی دکابل ولایت مجاهدینو دشپږو تنظیمونو دمجاهدینو دیوی ګډی شورا تر رهبری لاندی داسد په ۲٦ مه نیټه دکابل ښار په جنوب ختیز لوری کی دخورد کابل په علاقه داری باندی برید وکړ چی په نتیجه کی یی درژیم ۱۵ امنیتی دکمر بند پوستی له منځه وړی دی اودښمن ته یی غټ ځانی تاوان اوړولی دی .

همداراز دخواجه رواش اوبګرام هوایی ډګرونه یی ددرنو وسلو تر برید لاندی نیولی چی دښمن ته یو لړ تلفات اوړیدلی .

دغه خبر ځای ویلی چی دکابل ولایت جهادی شورا چی دشپږو جهادی تنظیمونودغړیو څخه جوړه شوی دکابل ولایت پر بیلابیلو نظامی مرکزونو دحملی لپاره داسد په ۲۲ می نیټی غونډه وکړه اوپه ګډه سره یی یو لړ نظامی هدفونه دحملاتو لپاره غوره کړل .

دیوه بل خبر له مخی داسد په ۱۸ مه نیټه دکابل رژیم هغه پوځی قطار چی له کابل څخه جلال اباد ته روان ؤ دسروبی د مجاهدینو له خوا تر برید لاندی ونیول شو ، چی درژیم ۷ عرادی زغروال ټانکونه د ۹۰ تنووسله والو افرادو سره په سالمه توګه دمجاهدینو لاس ته ورغلی اودښمن ٦ تنه وژل شوی همدارنګه دشکردری ولسوالی مجاهدینو داسد په ۲٤ مه نیټه دکابل ښار په شمالی ۸ کیلومتری کی دانتفاد دګلی په پوستو برید وکړ چی یوه پوسته یی ورانه کړی ، دوه تنه صاحب منصبان اواته تنه عسکر یی په اسارت نیولی دي .

په همدی نیټه مجاهدینو دسروبی ولسوالی پر امنیتی پوستو برید وکړ چی درژیم دوه ټانکونه او څلور پوځی لاری سوځیدلی اودښمن یو شمیر افراد وژل شوی دي اوهم دبریښنا دوه ستنی له منځه تللی دي همدارنګه مجاهدینو ددرنو وسلو په ړزو سره دقره باغ ولسوالی ددیوانه قلا پوسته تربرید لاندی ونیوه ، چی دیو شمیر مړواوژوبلو برسیره (۱۵) تنه ددښمن افراد ژوندی نیول شوی مجاهدینو پدی برید کی یو میل زیکویك اویو میل دهشکه ، دیوی اندازی مهماتو سره ولجه کړی دی.

له روسانوسره دمجاهدینو ...

ټولی ښکيلی اصلی اوفرعی خواوی ګټون وکړی اویا که دروسیی دبهرنیو چارود وزیر دمرستیال کوزیروف په مشری یو هیئت له مجاهدینو سره دمستقیمو خبرواترو په پلمه اسلام اباد ته راغی اوکه ... دغه ډول هلی ځلی اودهغو ترشا دهرچا بیل بیل شوم اغراض اوسیاسي هدفونه ژوره څیړنه اوسپړنه غواړی چی دلته دغه ټول بحث اوڅیړنه ددی لیکنی په چوکاټ کی نشی ځاییدای موږ له دغی جملی څخه اسلام اباد ته دروسی هیئت سفر اودمجاهدینو له هیئت سره دهغه لیدنی کتنی موضوع ته یو ځغلنده کتنه کوو .

تیره اونی دزمری دمیاشتی په ۲۱ مه نیټه دروسانو یو لوړ ټبه هیئت دکوزیروف » چی دروسیی دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال اودافغانستان دچارو مسول دی په مشری په اسلام اباد کی دمجاهدینو له هیئت سره چی مشری یی دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان دمشر محترم مولوی صاحب محمد نبی محمدی اوپه ترکیب کی یی دحزب اسلامی افغانستان څخه قطب الدین هلال ، دافغانستان داسلامی جمعیت انجینر محمد ایوب ، دحرکت اسلامی مشر ایت الله محسنی ، دنجات دملی جبهی په نمایندگی رحیم الله مجددی دملی اسلامی محاذ رحیم وردك اواخلاقی دحزب وحدت په نمایندگی شامل وو ، ملاقات وکړ .

په پیل کی مجاهدینو هیئت په مشری مولوی صاحب محمد نبی محمدی دتاریخ په اوږدو کی دافغانستان اوروسیی داړیکو تریوی لنډی کتنی وروسته په افغانستان کی دروسانو په مرسته اوملاتړ درامنځته شوی کودتا اوبیا دروسانو دېرغل اومستقیم تیری په نتیجه کی رامنځته شوی فجایعو اوجنایاتو ته داشاری په ترڅ کی په ډاګه وویل چی دافغانسان داوسنی دردناك اوخونړی حالت مسوولیت په واقعیت کی دروسانو اودهغوی دمزدورانو په غاړه دی اوهمدوی وو چی پر موږ یی جګړه تحمیل زموږ هیوادیی په وینو لژند مومن وګړی یی دی ته اړایستل چی له ځان نه دفاع په خاطر ددوی پرضد جهاد اعلان کړی .

په مقابل کی دروسی هیت په مشری کوزیروف دخپلو خبرو په ترڅ کی په افغانستان باندی خپل تیری یوه ستره اشتباه وبلله او وبی ویل چی موږ پخپله دغه ستره اشتباه اعتراف کوو اودامنو چی زموږ قواوی افغانستان ته داخلی اوهلته دمرګ ژوبلی ، لوټ اوتالاښب وګرځیدی . په همدغه تاریخی اشتباه باندی زموږ دهیواد مشر ګورباچوف هم اعتراف کړی نوځکه یی دوه کاله وړاندی له افغانستان څخه دخپلو قواؤ دایستلو اقدام وکړ .

وروسته بیا دمجاهدینو دهیئت غړیو پخپله وارسره خبری وکړی اودروسی هیئت په خبرو کی دبیلابیلو برخو ضد ونقیض ټکیو ته یی دانتقاد ګوته ونیوله مقنع اومدلل ځوابونه ورکړل اوداسی پوښتنی اوغوښتنی یی طرحه کړی چی مقابل لوری هیئت نه یی لار ورکه کړه .

دافغانستان اوروس په دی شوکلنه جګړه کی خو روسانو همیشه ددیپلوماسی اوسیاسی خبرو اترو په ډګر کی په نړیواله سطحه داهڅه کړی اولا کوی یی چی خپل لاسپوڅی اومزدوران دجګړی اساسی لوری وښیی ترڅوکولای شی هغه ددی جوګه کړی چی له مجاهدینو سره یی دسیاسی خبرواترو په میز کینوی خوپه دغه لړ کی ددوی اودمزدورانو ټولی هلی ځلی یی په تمامه معنی له ناکامی سره مخامخ شوی اوپه نړیواله سطحه هیچا داونشرای منلای چی ګوندی مجاهدین اودروسانو مزدوران (خلقیان اوپرچمیان) دجګړی اساسی خواوی وی ، بلکه ټولی نړی ته داواقعیت دلمرپه څیر روښانه شو چی دجګړی یوخوا تش لاسی خودایمان اوعقیدی په وسله سمبال مجاهدین اوبله خوا یرغلګرروسان دی چی پر مومنو افغانانو یی دغه ناانډوله جګړه تحمیل کړی ده .

روسانو چی په سیاسی اوپوځی ډګر کی دتش لاسومومنو افغانانو په وسیله له داسی شرمیدلی ماتی سره مخامخ شول چی دنړی په سیاسی تاریخ کی ساری نه لری نویی له بیلو بیلو لارو داهڅه پیل کړه چی له مجاهدینو سره په یوه اوبله بڼه پلمه داسی چی نړی یی په ضعف اوکمزورتیا هم ونه پوهیږی اوشوم اهداف یی هم ترسره شی مخامخ خبری وکړی چی په دی لړ کی کولای شوپه طایف اواسلام اباد کی دمجاهدینو له هیئت سره ددوی دلوړ رتبه هیئت دلیدنو کتنو یادونه وکړو ، که څه هم روسانو په دی هرځل لیدنه کتنه کی داهڅه کړی چی له یوی خوا دافغانسان په راتلونکی حکومت کی په یوه اوبله بڼه دخپلو لاسپوڅو کمونستانو ځا تثبیت اوتضمین کړای شی اوله بلی خوا په ایران اوپاکستان کی دمیشته مهاجرینواوجهادی تنظیمونو ترمنځ دنفاق تخم وشیندی .

که څه هم له مجاهدینو سره دروسانو دهیئت په دی دریم ځل مستقیمی لیدنی کتنی کی چی څو ورځی دمخه په اسلام اباد کی د ترسره شوو خبرواترو کی دروسی هیئت مشر په خپلو خبرو کی په ډیرو لیټو سترګو اوله خجالته ډکه څیره اعتراف وکړ چی افغانستان ته دسروپوځونو لیږل یوه تاریخی اشتباه وه خوټول پوهیږی چی دی خبری یوازی اویوازی یوه دیپلوماتیکی اوتبرایستونکی صبغه درلوده اوکه داسی نه وی نوبیا ولی دهغه رژیم ترشا ولاړ اودهغی هرډول مرستی ته چمتو دی چی دهمدغه اشتباه په نتیجه کی رامنځته شوی دی. دحیرانتیا خبره لاداده چی کله دخبرو اترو په جریان کی دمجاهدینو هیئت په روسی هیئت فشار راوړی چی تاسو چی په افغانستان باندی خپل تیری اشتباه بولی لازمه ده چی ددغه اشتباه محصول مزدوررژیم هم له منځه ولاړ شی ، نو روسی هیئت په ډیری چالاکی سره په ځواب کی وویل چی موږ دنجیب رژیم په زور له منځه نه وړو ، موږ یو ځل په افغانستان کی مداخله کړی اونه غواړو چی هغه بیا تکرار کړو .

په ۷ مخ

په پکتیاکی ددښمن پوستي تربرید لاندی ونیول شوی

پکتیا – دجهاد هنداری خبریال :
دپکتیا ولایت دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتو څخه دجهاد هنداری اداری ته دقوماندان حاجی ابراهیم له خوا په رالیږل شوی راپور کی ویل شوی چی مجاهدینو داسد په ۲٤ مه نیټه دسروری » په سیمه کی ددښمن یوه پوسته د (۱۲۰) ملی متری توپونو تربرید لاندی ونیوه چی په نتیجه کی یومیل شل کا ، او دمهماتو اطاق تخریب او له منځه تللی دی .
همدارنګه دپکتیا ولایت څخه دمیډیا درپوټ په اساس ویل شوی چی درژیم الوتکو داسد په ۲٤ مه نیټه دسیدکرم په ولسوالی کی دمجاهدینویو مرکز تربرید لاندی نیولی چی یو شمیر مجاهدین پکی شهیدان اوټپیان شول .

دکندزپه ولایت کی درشید دوستم او سیدکیان دملیشو و تر منځ جګړه

کندز – میډیا:
په پیښور کی یوجهادی خبر ځای رپوټ ورکړ ، چی داسد په ۱۹ نیټه دکابل رژیم درشید دوستم اودسید کیان د۵۳ نمبر فرقی دملیشه یی قواؤ ترمنځ دخپل منځی اختلافاتو اودخلکو دلوټو مالونو دتقسیم په سر سخته نښته وشوه چی دهغی په اثر دکیان د۵۳ فرقی له قواؤ څخه ١٤ تنه اودرشید دوستم د ملیشو څخه اوه تنه مړه اویو شمیر نور یی دکندز ولایت دامنیتی چارو رئیس په شمول سخت ټپیان شوی دی .
رپوټ وایی چی ددی جګړی په نتیجه کی دواړو اړخونو ته درانده مالی تاوانونه اوړیدلی اویو شمیر ټانکونه اولاری داور لمبه شوی دی .

دغزنی ولایت په هوایی ډګرباندی دمجاهدینو برید

غزني ، میډیا :
دمجاهدینویو خبرځای دغزنی له ولایت نه رپوټ ورکړ چی مجاهدینو داسد په ۲۲ مه نیټه ددرندو وسلو څخه په استفادی سره دهغه ولایت پرهوایی ډګر باندی یو لړ عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی درژیم دقواؤ یو ګودام چی خوراکی اولوژستیکی مواد پکی وه داورلمبه شوی یو شمیر عسکر له منځه تلی اودرژیم دقواؤ یو شمیر کلکی ځالی ویجاړه شوی دی .
دخبر ځای درپوټ له مخی دکابل رژیم الوتکو له مجاهدینو څخه دغځ اخیستلو پخاطر دمجاهدینو مرکزونه اوښار ته نږدی دنګزایی کلی ترسختی بمباری لاندی ونیوو چی دهغی په اثر دنوموړی کلی یو شمیر کورونه تباه اویو شمیر بی ګناه کلیوال ټپیان اوکلیوته درانده مالی تاوانونه اوړیدلی دی.

په کندز ، بدخشان اوتخار کی دمزدوررژیم دسختی بمباری له امله ۱۰۰ تنه شهیدان او ۳۰۰ تنه ټپیان شول

دهیواد له شمالی سیموڅخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی دروسانو اودهغوی دمزدور رژیم الوتکو په ګڼه دتیری یکشنبی په ورځ داسد دمیاشتی په ۲٦ مه نیټه دکندوز ، بدخشان اوتخار په سیمو کی سخته بمباری وکړه چی دهغی په نتیجه کی دښځو اوماشومانو په شمول زموږ سل تنه مومن وګړی شهیدان اودری سوو تنو په شاوخوا کی ټپیان شول.
خبر زیاتوی چی ددښمن الوتکو په ډیری بی رحمانه توګه دازادوشویو سیمو کلی اوکورونه له یوی مخی بمباری کړل اوپریادی شوی ژوبلی برسیره زیات شمیر کورونه په کنډوالو بدل شول.

دلوګرولایت یو قوماندان په شهادت ورسید

لوګر– میډیا:
په پیښور کی یوجهادی خبر ځای دلوګرله ولایت نه میډیا ته رپوټ ورکړ چی شهید تورن نصیراحمد دغنډ قوماندان انجینر منیراحمد دکابل رژیم له قواوو سره په جګړه کی ددغه ولایت دمنګوخیلو په سیمه کی داسد په ۹ مه نیټه ددښمن دهاوان په ډزو سره په شهادت رسیدلی دی .
انالله واناالیه راجعون
رپوټ زیاتوی چی نوموړی قوماندان دجهاد له پیل نه تراوسه دکابل دکمونست رژیم قواووسره په بیلابیلو محاذونو کی وسله وال جهاد کړیدی او زیات بریالیتوبونه یی ترلاسه کړیدی .

دکندهار په ولایت کی دمجاهدینو بریدونه

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دکندهار له ولایت نه رپوټ ورکړ چی مجاهدینو داسد په ۲۱ مه نیټه دکندهار ښار دشکارپور دروازی په سیمه کی درژیم پر قواؤ برید وکړچی دهغی په اثر دکابل رژیم دقواؤ ٥ تنه عسکراوصاحب منصبان مړه ، اوه تنه ټپیان اوهم دښمن ته درانده مالی تاوانونه اوړیدلی دی .
دیو خبرله مخی داسد په ۱۹ مه نیټه دکندهار ښاردعید ګاه ددروازی په سیمه کی دخاد مدیر موټر دمجاهدینو له خوا دیوه ځای پر ځای شوی مین دچاودیدو له امله ویجاړ دخاد دمدیر سخت ټپی اویو شمیر ملګری یی له منځه تللی دی .

په روس کی دګلاسنوست اوپرسترویکا ...

د روسانو دښکیلاك زیښناك چل اوډوکی څخه ډك خطر ناك سیاست عادت ګرځیدلی کله چی ددوی کوم استعماری سیاست افشا شی اویا مثبته نتیجه ورنکړی نو سم دلاسه دغولوونی اوتیر ایستنی بل استعماری سیاست پکار اچوی ترڅو خپلو شوموا وغیر انسانی اهدافو ته ورسیږی .
داچی دروسانو دانوی غوره کړی تګلاره اوبیا بیرته هغه دظلم ، تشدد هغی پخوانی کړنلاری ته ورګرځیدل به روسیه دټوټی ټوټی کیدلو له خطر څخه وساتلی شی که نه اویا به دازادی ښښونکو غورځنګونو په له منځه وړلو اوچوپ کولو کی بریالی شي که نه داهغه پوښتنی دی چی دوخت په تیریدو دحالاتو دڅیړنی اوتحلیل له مخی ځوابیدای شی .

.هیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

مادران اسرای روسی ازرژیم کابل انتقاد کردند

کابل ، میدیا :
بگزارش خبرنگار اعزامی میدیا ازشهر کابل ده هاتن ، ازمادران عساکر مفقود الاثر روسی درجنگ افغانستان که فعلا درکابل بسرمیبرند ، حکومت کابل راکه بغرض ازادی پسران شان تاکنون کاری نکرده است شدیدا مورد انتقاد ونکوهش قرار داده اند .
بقول خبرنگار میدیا مادران روسی از زمامداران رژیم کابل خواسته اند ، تااسناد مساعی شانرادرزمینه رهایی پسران شان که باریختن خون خویش انانرا برمسند قدرت رسانیدند ارائه دهند .
انها همچهان از زمامداران رژیم کابل تقاضا کرده اند تالست ان عده مجاهدین را که درزندانهای رژیم محبوس و دربدل ازادی پسران شان می باید ازاد شوند بحیث سند نشان دهند .
قرار گزارش خبر نگار میدیا ، مادران روسی مذکور که از بیست روز در کابل بسر می برند ، معاون وزیر دفاع حکومت کابل راکه گفته بود باجوانب مربوطه درموردرهایی اسیران روسی درتماس می باشد به دورغ متهم کرده اند .

۲۰۰ تنه ملیشه دهرات مجاهدینو ته تسلیم شول

هرات ، میډیا :
په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دهرات له ولایت نه رپوټ ورکړ چی مجاهدینو داسد په ۲۲ مه نیټه ددغه ولایت دګلران په ولسوالی کی دبوزجان دقومی ملیشه و پر کنډك باندی بریالی عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی دری تنه ملیشه مړه ۱۳ تنه نور ټپیان اوددښمن قواؤ ته زیات مالی تاوانونه اوړیدلی دی اودجګړی په دوران کی دکابل رژیم له قواؤ څخه ۲۰۰ تنه ملیشه دخپلو کورنیو سره دپنځه عرادی لاری ، دوه میله ۷۵ ملی متری توپونو ، اته میله پیکا ، پنځه میله راکټ ، یو میل زی ، یو ، اوه میله سل ډزی ، ۲۲۰ میله کلاشینکوفونواو دزرګونو ډول ډول ګولیو سره دمجاهدینو سره یو ځای شوی دی. درپوټ مطابق پدی نښته کی دمجاهدینو څخه هم اته تنه ټپیان شوی دی .

فراهم ساختن تسلیحات نظامی به رژیم کابل ادامه دارد

کابل – میدیا:
خبرنگار اعزامی (میدیا) ازشهر کابل راپور میدهد سلسله انتقالات قابل ملاحظه سازوبرگ نظامی از جمله راکت های سکد ، لونا و اوراکان ودستگا های پرتاب ان از جانب روسها به رژیم کابل نه تنها ادامه داشته بلکه نسبت به گذشته سرعت بیشترکسب کرده است .
خبرنگار میدیا از قول حلقات اگاه نظامی درکابل می گوید ، اخیراً روسها دوذخیره اکمالاتی یکی دردوسرکه بندرحیرتان ودیگر ی در مزارشریف ایجادکرده اند که هر کدام ساحه صد جریب زمین را احتوا مینماید .
طبق راپور ، چهار دستگاه فیرسکد نیز جدیداً وارد افغانستان شده ودرمناطق مختلف نصب گردیده است .
همچنان درتعدادراکت های سکد ،لونا واوراکان افزایش بعمل امده ناظران اگاه نظامی درکابل می گویند که اخیرا به اندازه قابل ملاحظه از ینگونه راکت ها وارد افغانستان شده و بمراکز نظامی از جمله دارالامان ، قرغه و شهر گردیز مرکزولایت پکتیا انتقال و درانجا نصب شده است خبرنگار میدیا ازقول منابع اگاه خبرمیدهد روسها درظاهر از پروسه صلح درافغانستان دم می زنند ولی درپشت پرده باارسال سلاح های کشنده وویرانگر به مداخله درامور افغانستان ادامه میدهند .